د نیلوفرو کیسې

د لندنو کیسو غورچاڼ

د عبدالغفور لېوال په زیار

PROPERTY OF
AKU
12672

د نیلوفرو کیسې

PROPERTY OF
ARIC
KABUL

د لنډو کیسو غوره چاپ

د غفور لیوال په زیار

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم	:	د نیلوفرو کیسې - د لنډو کیسو غوره چانې
اهتمام	:	غفور لیوال
ناشر	:	مرکز د همکاری افغانستان (OCA)
چاپ شمیر	:	۱۰۰۰ ټوکه
چاپځي	:	دانش کتابتون پېښور Ph: 2564513

پروین فیض زاده ملال

سپینې پانې

هغې د هغه کتاب پانې یوځل واړولې راواړولې او یو ځل ېې بیا دهغه په ښکلو کلمو کې خپل موجودیت ورک کړ او یوځل بیا د یوې بې ځوابه پوښتنې په سمندر کې ډوبه شوه.....هو! رښتیا چې دا به چالیکلی و ؟ دا ښکلې او موزون کلمات دا شاعرانه او زړه وړونکي کلمات دا د انسانیت د لوړ او اوچت معیار په تول تللې خبرې. ټوله سوال، سوال وه هر څه سوال، سوال وو، چې دا به چالیکلی وی؟ چې دا به غیر له دینه چالوستی هم وي کنه؟ هغې خو کله، کله داسې هم ګیله چې دا په ټولې نړۍ کې بس دغه یو ټوک دی او هغه هم ددی د آلماری ښایست شوی دی. دالومړی ورځ نه وه چې هغې ددې کتاب پانې اړولې په ورځو شپویې دا کتاب لوستی و او ډیر ځله یې په دې.

کتاب کې د ځان په نسبت څه احساس کړی و او ډیر ځله یې ځان ددې کتاب سره په تول کې ایښی و. هو! هغې یوازې په خاموشۍ سره یا په تایید سره کتاب نه لوستی، بلکې هر وخت به یې د هغه سره خبرې کولې او مرکې. اوبیا چې به ېې کتاب بند کړ نو هیندارې ته به مخامخ ودریده او په خبرو به لګیاشوه.

-عجیبه کتاب دی . . ، عجیبه یې خبرې ... هیڅوک نه پوهیږي چې هغه زما سره څنګه خبرې کوي او هیڅوک نه وینې چې ورته ویل به یې.

زه ې وینم... زه ې اورم... زه هر څه وینم.

– نه! نه! ددې کتاب خبرې بل ډول دي هغه د نورو کتابونو په شان نه دي هغه بل ډول...

او بیا به یې بیرته کتاب ته لاس کړ لکه دې کتاب سره چې ددې د ژوند مزې ټینګې تړلي وي لکه ددې د خلقیت تصویر چې ووي لکه د ښایست اومینې خوبونه چې یې ددې کتاب په پاڼو کې نغاړل شوي وي به هوا کې د نګهټونو په ګلونو کې د عطرونو په شان پ خوبونو کې د خیالونو په رنګ... او نور... خدای خبر چې څه به شوې وو چې د کتاب د کلماتو سره ولاړه... دومره لې ولاړه چې د پیړیو په پلل یې پلونه اوړده شول، خو عیبه وه ددې تګ مخ ته نه بلکې شاته ولکه ددې کتاب نسبت چن تیرو، وختونو ته هم و هغه تیرو، وختونو ته ولاړه او په تیارو کې یې خپل ځان ورک کړ...

څه ښکلي وختونه و د هغې پلار د اوړده سفر څخه بیر ته راستون شوی و او ددې د لومړي ځل له پاره پخپل پلار ستر ګې لګیدلې وې جې دې د نړۍ په مخ ستر ګې رونه ولې نو پلار یې په کور کې نه و او اوس دا د پوره درې کلونو وه چې پلار یې له سفره راغلی و هغه به هره ورځ د پلار سره د ګلونو، باغونو اوبیدیا وو په سیل وتله او د بوډې په تال به زنګیده. ټوله ورځ به یې د هغه سره تیریده لکه یوازې چې یې د پلار په ستر ګو کې د خپلې معصومې مینې ځوابونه لیدل او د خپلې ماشومې دنیا خیالونه او خوبونه. خو ددې سره، سره یوه خبره وه، یوراز و، یو دستور و چې نه یې شوای کولای پلار ته د پلار خطاب وکړي... چا به ورته ویلي و؟ څرګنده نه وه او بیا له یوه ورځ یې خولې څخه

ناڅاپه وتلې و ، پلاره!...او ددې جملې سره سم هغه ژوندۍ ښځه شوې وه. دومره ښکلې جمله او دومره له درده ډکه سزا... او دادی اوس یې بیا ژوند کاوه ... ښکلې مانۍ وه د ټولو ښکلا وو سره د ټولو زینتونو ، راحتونو ، خوښونو او خیالونو سره دیوالونه یې ډیر لوړ ، لوړ او دروازې یې د سروزرو ، وې ځنځیرونه ېې د سپینو زرو او د یاقوتو قلفان باندې ځړیدل ، ګلونه وو چمنونه

باغچې وې او ویالې مینځې وې خدمتګاران وو او ددې اختیار. هر څه ددې په خوښه وواو هر حرکت ددې په اشاره دا ځکه چې ددې مانۍ په حدودو کې پاچهي دې ته ورکړی شوې وه. خو یوه خبره وه چې دې کتاب نشوای لوستلای... لوستلای څه چې دې ته امر شوی و چې دا دورسپارل شوي اختیار په حدودو کې هرڅه کولای شي صرف د کتاب د لوستلو نه. که چیرې کومه ورځ دې کتاب ته لاس کړ ، نو هغه ورځ به ددې د مرګ ورځ وي. خو ددې لاس په ناڅاپي ډول کتاب ته اوږد شو خورا اخیستی یې لانه و چې وربانډی چیغه شوه.

– مانه وو درته ویلي چې دې کتاب ته به لاس نه وروړې ته اوس دونه شوې چې زما د آمرنه سر غړونه کوې.

اوبیا چې ددې په ځیګر د غشي ګوزار برابر شوی و نو هغه د دغه هیبت ناک خوبه څخه راویښه شوه کتاب ېې له لاسه ښوئیدلی او په مځکه پروت و ، راو لاړه شوه او هینداري ته مخامخ ودریده چې ښه یې په کې وکتل ، نوبیا یې ځان د کتاب او هینداري سره په یوه بل حالت کې پیدا کړ او د ځان سره په خبرو شوه.

– عجیبه ژوند... دې ته هم ژوند وایي... هغه په لوی آیینه دار دالان کې ناسته وه . د ساز آواز ونویې غوږونه ځوروول. پښتویې درد کاوه دومره درد چې اوس یې زړه څړیکې ورسره کولې .دې ته مخامخ څونور کسان هم ناست و خو دې یو هم نه پیژانده اونه یې غوښتل چې ویې پیژني. د هغې کوښښ داو چې څنګه په دې درد منو پښو ودریږي او څنګه د ساز د مستو څپو په غیږ کې د خپل جود ماته بیړی په حرکت راولي او ړنګه، بنګه یې روانه کړي او څنګه ؟...

ددې هڅو سره هغه پاڅیدلې وه او چور لکونه یې وهل. چې کله به د پښو درد ډیره تنګه کړه، نو په یوه او بله پښه به یې ښه زور راوړ او په دې وخت کې به ېې د خپلو دردونو او ساز په څپو کې د ناستو کسانو واه... واه تر غوږ شوه عجیبه وه ددې په دردونو کې د نورو خوښې نغښتې وې او بیا په دې نغښتو خوښیو کې د کتاب کلمات ... هغې ته په دې وخت کې هم کتاب ور په یاد و او د کتاب ښکلې خبرې چې هغې ته به هروخت ښه ښکاریدې او ویل به یې چې که یوه ورځ داسې وشي نو څه به وشي... په دې ارمان کې کلونه باندې تیر او ځواني یې د دالان د یوالو او د کوټو چتونو وخوړه. خو ورځ په ورځ یې له کتاب سره مینه زیاتیدله. زړه یې غوښته چې د کتاب په شان شي. که یوه ورځ هم وي کټ، مټ د کتاب په رنګه هم هغسې د آدمیت په مقیاس اندازه شوي توري. دې غوښته چې کتاب دومره ولولې چې په هغه کې دې ته د ژوند ورجوړ شوی او تثبیت شوی شخصیت ورک شي او د هغه د تورو په تول د ښکلاوو په ښکلا وو وپسول شي ... او بیا پسول شوی و سر ترنو که ځلیدله او شرنګیدله هم. هغسې ښکلې شوې وه لکه د کتاب ښکلي کلمات. په تسلسل سره په ښه اندازه سره په سرو او سپینو کې یې غاړه، لاسونه، تټیر او پښې ډکې وې او لکه د کتاب دپانو په څیر خالي ځای په کې نه و... خونه... نه...

بیایې هم د کتاب سره توپیر. درلود ښه ښکاره توپیر. ددې د غاړې د سرو ځنځیرونو

د لاسوینګړیو د پښو پایزیبونو د نورو سترګې ځلولې، دې ته یې هیڅ ګټه نه درلوده. خو د کتاب ښکلا خپله کتاب ته معنوي ښکلاورښښله..... دا وخت هیڅوک نه وو او دا یوازې په آرامو قدمونو د خپلې تیارې اوغمجنې کوټې خواته چې کړکۍ یې هر وخت تړلې وې، روانه وه... دروازه یې پرانیسته او په مخامخ کټ باندې د خپل دردونو او غمونو په محفل کې کښیناسته. سترګې یې

د کوټې چت ته ونیولې اوچت ورته کتاب، کتاب شو اوپانې پانې توري یې نور هم ورته ښکلي شول، خو دا ځل یې د کتاب د ښکلا سره په زړه کې څه رخه شان هم پیدا شو، لکه د هغه ښایست ته چې کتلای نه شي، لکه د هغه ښایست چې یې ځوروي او لکه... ناڅاپه را پاڅیده بلې کوټې ته ولاړه نورې جامې یې واغوستې اوښه ډیر کتابونه یې راواخیستې د دروازو ځنځیرونه یې یو په بل پسې خلاص کړه او دواټ په سرپلې روانه شوه پوهنتون د دوی د کور څخه لږ لیرې و او دا پلې هم تلای شوای، لږ شیبه وروسته پوهنتون ته ورسیده په پوهنځي کې کښیناسته او خپل کتابونه یې مخ ته کښینبودل. څه شیبه وروسته استاد راغی او لکچریې پیل کړ، خو عجیبه وه د نن لکچر هم د هغه کتاب په باب و، هغه چې دې هر وخت لوستی او هغه... استاد په پرله پسې توګه لکچر ور کاوه او دې غوږ ورته نیولی و. د هغه د لکچر په مینځ کې ناڅاپه متوجه شوه چې په ټولګي کې ټول ناست هلکان دې ته ګوري. لکه ددې او استاد د خبرو تر مینځ چې ټینګې اړیکي موجودې وې اولکه داکتاب چې د دې خپل وي. هغې په لومړي سرکې دونه پروا ونه کړه خو ورو، ورو یې د ټولګي فضا زړه ورتنګاوه او زړه یې وچې د استاد د لکچر له

مینځه را پاڅي او ولاړه شي. خوښه وشو، د نورو ورځو په خلاف د نن لومړنی درسي ټایم ژر پای ته ورسید او دا ښې له دې چې نورو درسي ساعتونو ته تمه شي له پوهنتون څخه راووته او برا بر د کور پر خوا روانه شوه... بیا یې هم احساس کړه چې په لارو او واټونو کې ټول خلک دې ته ګوري... هغې د کور خوا ته نور هم قدمونه چټک کړل او په یوه ساه یې ترکوره پورې ځان راورساوه. بیا یې هم کتاب له ځانه لیرې نه کړ. یو ګیلاس اوبه یې و څښلې مخامخ هینداري ته کښناسته او د کتاب پانې یې راواړولې خپل مقام یې په کتاب کې د لیکلو عباراتو سره اندازه کړ او د کتاب بڼکلی او په تسلسل سره د لیکل شوو تورو تصویرونو یې په هینداري کې د خپل عکس سره وکتل لکه یو ماهر انځورګر چې د خپل تصویر اندازه اخلي خپل ټول کړه، وړه ښې له کتاب سره په ترازو کې کښېښودل او د یو عادل قاضي بڼه یې ځان ته ونیوله... بڼه شیبه ېې ورته وکتل او بیا یې احساس کړه چې سترې ده ډیره سترې، د هفتو او د میاشتو سترې د کلونو او پیړیو سترې، یوازې نن په زړهاوو ځله راغلې او ځان یې د کتاب سره په هینداره کې کتلی ډیر وخت ونه کیږي چې دا د دې کتاب لوستونکې ده او ډیر... د بیدیدو په نیت یې سترګې پټې کړې او کتاب یې له لاسه وښوئیدی، په مځکه ولویدی او پاڼې، پاڼې شو. خو عجیبه وه د کتاب ټولې پاڼې سپینې وې. ټولې ټولې سپینې د یوه سره سپینې یوازې د هغه په پوښ لیکل شوی و « حوا د ټول انسانیت مور » *

۷/۸/۱۹۹۵

کراچۍ

* نام مجموعه: سپینې پاڼې

ناشر: د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه، کال: ۱۳۷٤ هـ. ش.

سعدالدین شپون

د کیشپ لور

د کلي په سر شناسانو کې یو هم حسین باچاو. زمور په خلکو کې باچاد ستانه کورنۍ او سیدانو سړي ته وایي. خو کله کله عادي سړي ته هم دا لقب ور کوي. مثلاً د سیدانو پېښې کوي، یاځان مشر مشر جوړوي. په دې لقب کې یوه نرۍ غوندې ملنډه هم شته چې د سپکاوي تر حده نه رسېږي خو دغه ډول خلکو ته د باچا ویلو سره، کلیوال یو څه موسک غوندې هم شي. هغه موسکا بیا وروسته هېره شي او سړی د وچې باچاشي.

حسین باچا ډېره نه لرله. نه یې خربهله، بلکې له سره ېې لرله نه. پګړۍ به یې هېڅ کله له سره نه لرې کوله او مور هلکانو به قسمونه خوړل چه گنجی دی، خو د کلي ډم، سخي داد ماما په دې برخه کې چوپه خوله و او حسین باچا هم د نورو په شان هر کال په درمند خپله ونډه غنم او شولې ور کولې، چې مور به ویل دا رشوت دی چې سخي داد ماما حال ونه وایي.

د حسین باچا یو مخکینی غاښ مساله یي و چې هغه به د ډوډۍ نه وروسته په مېلمستیا کې پریولو او چې دده دلاس پرېولو وار به شونو به مور هلکان کوزه په لاس ورته ولاړ وو چې کله دی د مساله یي غاښ له پریولو خلاصیږي او بده لا دا چې هر ځلې، بلا ناغه به چې ده خپل غاښ پریولو

ته را ایست نو یوه لویه کښته به یې پیل کړه او مور به ورته ولاړو چې دی به کله د غابن د صیقل کولو نه خلاصیږي.

دی به هېڅ بې هېڅه د قوشخانې په بر سرکې ناست، چپنه اغوستې، ماسۍ په پښو او یولوی رومال په غاړه چې در گرده به یې د خپل صفا مخ خولې پورې وچولې.

مور هلکانو به کیشپان سره جنگول په یوه به مو د حسین باچا نوم کښنود، ځکه چې د هغه غوندې کړاغې شنې سترگې، بې وېښتو مخ، گپه خوله. ور مېرېې هم د کیشپ په شان ورو ورو یوې او بلې خواته ښورا وه. زه وایم ET فلم به یې د همده په څیره جوړ کړی وي.

د ابراهیم بیګ د قیام په وخت کې حسین باچا په هشت نفرۍ کې (داتونه یو عسکرۍ ته جلبېده) د لغمان نه راغلی و او بیا چې د باسمه چیانو قصه ختمه شوه همدلته پاتې شو. د ده نور ملګري هم د خان آباد په نورو کلو کې میشته وو، دده په شان، دفعه داره رساله دار، مُباشي (منګ باشي، د زروکسانو مشر) او داسې نور لقبونه یې لرل. اوس دا ټول هسې د گور په غاړه ولاړ بوډاګان وو او نسل یې له مینځه تګ ته نژدې و.

د حسین باچا یوه شنه اسپه وه چې د میاشتې یو ځل به په هغې باندې سپور شو او کو به یې ته به روان و. کوبه یې داشکمش خواته د کوم غره په تره کې یو کلی وچې حسین باچا ښځه تړې راوستې وه. په دغو سفرونو کې به یې مېرمن چې ده به کمپیره بلله، د ځان پسې قنجغه کړه.

د حسین باچا په عادتونو کې یو دا و چې مالګه به یې خوړله. تل به

درنې مالګې (شیشه نمک) کنډوری لاس کې او د مار په شان نری ژبه به یې پرې تېروله. روژه به یې هم په مالګې ماتوله او کله به چې د دهقانانو بنډارو، نورو د نسوارو د کدو سره لوبې کولې او حسین باچا به د واسکټ له جیبه د مالګې توټه را واېسته او څټله به یې.

د خدای کارونه د بنیادم په عقل کې نه ځایېږي. د ظاهر شاه باچالور، خلک وایي، د کتونه وه، خو د حسین باچالور نیمه نندارې وه. د پلار نه یې یوائې شنې سترګې راوړې وې او نوره نو هغه ښا پېرۍ وه چې ملا ماما یې د ګل اندامې او شهزاده بهرام په قصو کې مور ته بیان کاوه. د وېښتانو رنګ یې د مرخانې (عناب) وچې څپې څپې ترښنګرو را ځوړند و او مخ یې بیا سپین مر مر وو چې د لاجوردو دوه غمي په کې چا اینبي وي. د ملا پسې یې مور هلکانو دا بدله ویله. "نرۍ ملا، مې ماتیږي، نه جوړېږي، نرۍ ملا."

مور هلکان به ماز دیګر د سړک څنګ ته د للمې نه د پادې راستنېدو ته منتظرو ونو به مو په نري سیند کې لامبو کوله او بیا به د سېند غاړې ته په تودو شګو پرېوتو، د شګو کوتنې به مو جوړولې او یو له بلله به مو د زړه راز کاوه، نو اکثر به د حسین باچا د لور، مرجانې په باب غږېدو. چا به ویل، مرجانه داسې نرۍ سره سپینه روغه ده لکه ښاري. مور کلیوالو به هر نرۍ نیستو کې پاکۍ او نازولی شی د ښار پورې تاړه. د مرجانې نرۍ ملا، اوږده وېښتان، سپین ګرد مخ چې تا به ویل لمر یې نه دی لېدلی، ترخې شنې سترګې او د ناز کړه وړه چې بېړه یې نه پېژنده، ببدو د ښاریو و او مور ټول وربانديې مین وو.

چې د مکتب نه راتلونو په لاره به د حسین باچا د پتیو نه تېرېدو چې ګوندې مرجانه چېر ته سابه کوي. خو د خېشاوې غږ به و. د شولو د خېشاوې عجب غږوي، شغ شغ او د اوبو شړپېدا یې له لرې اورېدل کېږي او که څه هم چې دهقان د شولې په بوټو کې پټ وي خو د شولو سرونه ښورېږي او سړی پوهېږي چې خېشاوه روانه ده. مور به ورو ورو په پوله ور نژدې شوو چې ګوندې مرجانه وي او سابه به ټولوي، خو اکثر به مو ولېدل چې د حسین باچا پګړۍ وا لاسر به د کیشې په شان را اوچت شو، بیا به مونو را خپلې کړې.

کله به مو مرجانه لېده چې سور ګل سیب د سمال کې به یې وینښتان نغښتي وو، خو د هغې لېدل یو نادره طالع وه. یوائې وختونه چې یو څه امکان به و د اختر ورځې وې، په دې ورځ به دا د کلي د نورو نجونو سره زمور کور ته هم راتله.

زه به په یوه اوبله بهانه سرای ته ننوتلم. یا به کله ما د خیرات غوښه کور په کور وېشله او د دوی ور به مې هم په دې امید وټکاوه چې ګوندې د کیشې سري پر ځای دا را ووځي. که به چا مرجانه ولېده بیا به مو په ماز دیګر یو بل ته د خپلو کارنامو کیسه کوله او له ځانه به مو ور سره تبی کول.

خو یو ځلې ما مرجانه په ربنتیا داسې ولېده چه زیاتې مې د ډاره چاته کیسه هم نشوه تېرولی:

د برات څوارلسمه وه او مجلس هم زمور په کور کې و. دا مجلس یوائې د نجونو او ښځو و. د کلي نجونې ټولې راغلې وې، خو د هرې یوې سره د هغې مور یا بله پخه ښځه د ټونګر په حیث راغلې وه.

سړ د مرجانې د برات د ناوې کېدو وارو. د حویلۍ ګوټ ته د پوزویو یوه کوډله چې د هغې ویالې په سر جوړه شوې وه چې د سرای د مینځ نه تېرېده، د ښځو د لمبا ځای و. دې کوډلې چت نه درلود، مازې څلور د پوزې دېوالونه وو چه د څلورو لرګینو ستنو پورې ترل شوي وو. د نارینه د لمبا ځای هغه لوی نهر و چې د کلي له هوډ سرنه ننوتلې او له بل سرنه یې وتلی و. ژمی به و که اوړ، ډېر ځله مې پلار لېدلی چې په څېله کې به خیشت پیشت سهار دوخته کوټې ته ننوت او د کنګل ګونګرو ګان به یې په ږیره رانه ځلېدل.

د برات د څوارلسمې سپوږمۍ د کور غولی داسې روښانه کړی وچې هغه وړوکي الکین چې د صفې په سر د ښځو د مجلس په مینځ کې لګېده بې نوره او تت ښکارېده. په همدې شېبه یې مرجانه لمبو له او زه ور ته د بام په سر پروت وم زنه مې د ناوې په ژور غالي ایښې وه او کوزه مې برېنډه مرجانه کتله چې نجونو د ویالې نه جامونه ډکول او د هغې په سر یې اړول. ستر ګې مې ورته څلور کړې چې غونډه یې وویښم خو یواځې سپین بدن او توړې څنې وې چې کله به یې په مخ را سپړې کړې او بیا به یې شا ته تر زنګنو راځړیدې. د صفې په سر ښځې لګیاوې د لاس ګوتې، بنګړي، باووګان، نتکې د زرو تاویزونه..... یې په یوه منګي کې چې نیمایي له اوبو ډک و واچولې. زړو ښځو به نوسي، ګوتمو ګان او سلایي هم ورکې اچول، د هر چاشی معلوم و. بیا یې نو په مرجانې سپین څادر وغوړاوه او همداسې یې بر بنډه، په څادر کې نغښتې د صفې په مینځ کې د منګي څنګ ته کېنوله. وروسته نو ښځو ددې مناسبت خاصه یوه یوه ټکۍ ویله او مرجانې به د منګي نه یوشی راواېست. د هر چا مال به چې راووت، ټکۍ به د هغې د بخت او طالعو ټوټکه وه. دا ټکۍ ډېرې معمولې

وې. اړنده، بړنده، سره کومه یې غوړنده (د ښځو نده ژوند پښ گویي) مه جغ کوه مه سپاره، خدای بې در کړي په تیاره (د نجلۍ آینده روښانه وه) گل دی کدو گل دی. مالایو شکولی نه، تر لاندې بل دی (ډېراولاد) خاصه او د (حوض) خاصه او داسه کوزه دې مه لوو یړه د لاسه: نه کرلې نه ریبلې، تورې څنې اړولې .....

چې د هرې نجلۍ د سامان سره به ښه ټکۍ راغله نو د خوشالۍ نه به نورو نجونو په شا وار ورکړ" خواره شې، ښېګڼه دې میره شو" او که به خرابه وه نو نجلۍ به د ځان سره غوړمښه" داسې برات دې اور واخلي"او سپکه به د مجلس نه پاڅېده.

په آخر کې نو بیا د ښځو د چمبو او بدلو وار راته او مجلس به تر نیمو شپو روان و.

خدا زده چې د مرجانې ټکۍ به کومه وه چې درې میاشتې پس، لېونې سپې وخوړه او مړه شوه. *

*نام مجموعه: د بنگي غاړه
ناشر: د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه، کال: ۱۳۷۷ هـ.ش.

عبدالمنان ملګری

زنداني نجلۍ

یوه زمانه د کابل په شتر خانه کې د لالا فیضو په نامه یو نجار اوسیده، چې ژوند یې د شتر خانې او شور بازار او کوچه ګانو له زیاتو کوڅه والونه ښه و.

په هغه زمانه کې د کابل زیات کورونه، په خټو کا ګل او اخیروو، بوس یې په دیوالونو کې له لرې لیدل کیدل، خو د لالا فیضو د کوټو دیوالونه ټول سیم ګل وو او فیروزه یې رنګونه بې ور کړی وو اورسی یې هم د دیوالونو په شان رنګ درلو. او د کوټو چتونه یې ټول سطح وو. لالا فیضو په خپله نجارو. د چتونو په مسطح کې یې ډیر ښه نقش او نګار کړی و. هره کوټه کې یې یوه دلرګو دیوالې الماری درواړې وه، چې د الماریو شاوخوا چوکاټونه یې د لرګو په ګل کار یو رنګین اوښکلي شوی وو. کوربې دوه پوړیزو او په انګړ کې یې ښه ځاه درلوده، چې دشتر خانې زیاتره ښځو به د لالا فیضو نجار له کوره اوبه وړې.

لالا فیضو رښتیا ډیر خسیس سړی و. په ژمي کې به یې شلغم جوشول خوړل به یې او په اوړي کې کچالو. په میاشتو کې یې خورد غوښه خپلو کوچنیانو ته نه ښکاره کوله. هر څوپیسې چې به یې ګټلې په خپلې چرمي امیانې کې به یې اچولې. او تر ملا به یې ټینګې ترلې اوچې د سودا

اخیستو غږ به یې واورېد، لالا فیضو به بیا ورته له امیانې نه نوي نوي لوټونه شمار کړل.

ددغسې خسیس او شوم سړي په کور کې صفورا و زیږیده، خاپوړې یې وکړې او بیا پیغله شوه. صفوراد لالا فیضو نجار دریم اولاد و. دوه اولادونه یې د مخه هم شوي وو، خو مړه شوي وو اوله صفورا نه وروسته دوه زامن او یوه لور بله هم د لالا فیضو په کور کې پیدا شول، خو صفورا،

صفورا اوږده سره بخن ویښتان درلودل، چې د خړو وریځو په شان یې څه د مخ پرولو را پریوتي وو او څه یې د ملا په تیر خواره شوي وو. گرد گرد د پغمان د منو په شان یې غوښن غومبوري درلودل او د سرخي د قوطی په شان یې وړه خوله درلوده. زنه یې هم لنډه او غوښنه، د مخ پوستکی یې دومره پوست اوښوی و چې گوته به دې پرې کښودله، تابه ویل چې گوته دی په مرمر او یا هنداره لگیږي. سترگې یې هم د توشلې او مریو غوندې گردې، خو تورې اوبورې وې. کله کله چې به یې را نجه ور پورې کړل، هغه د چا خبره چې دوه سترگې به یې دوه بلاوې شوې او سړی به یې خوړ، سینه یې ډکه وه، ملا یې د میږې غوندې نرې او ډډې یې د ما لوچو غوندې پوست او ډک و. له سینگاره سره یې مینه وه. تل به یې لاسونه او پښې په نکریزو سره کړي وو او په غاړه کې به یې ملغلرو دوه دري واړه لړونه پراته وو، چې ددې د غاړې وړانگو ملغلروته یې خاص خوندا و رنگ ور کړی و. د صفورا ښکلاته د لالا فیضو د کور دیوالونه هم او به کیدل. د لالا فیضو یو شاگردو، چې په کریم استالفي مشهور و د کریم استالفي پلار او لالا فیضو اشنایان وو. هر وخت به چې د کریم استالفي پلار کابل ته راته، لالافیضو ته به یې ښې شینکی کاسې او

غوږي د سوغات په نامه راوړل او دانګورو او توتو په وخت کې به يې کجاوه حسيني او کشمشي انګور لالا فيضو ته راوړل همدغه اشنايي او دوستي وه، چې د کريم پلار خپل زوی لالا فيضو سره شاګرد کړ. هغه وخت چې کريم استالفي لا ښه زلمی نه و، د ښځې نوم ورته مسخره غوندې ښکاريده، خو چې ځومره د زلميتوب جوش او خروش ته ورنژدې کيده، هومره يې سترګې د صفورا، په سرو غومبرو کې خښيدې او او به کيده به. کريم استالفي هم ډير ښکلی زلمی و.

د چندړو په شان يې نری ونه وه د ملالې خوالنډ، خو د پښو له خوا اوږدو پوزه بې د دوو وريځو د پاس شونډې تر سرحده پورې د تير غوندې پرته وه. سپړمو يې باد امي با دامي بڼه درلوده، سريې نری او بيخ يې لږ پلن غوندې و. په ټنده کی يې دری وړې کرښې معلوميدې، چې د کار په وخت کې به لکه د لښتيوو په شان خولې ډنډ وې او د سيماب غوندې به په کې زغليدې. د مخ پوستکی يې سپين و، خود کار په وخت کې به چې سترې شو، د تګاو دانا روپه شان به سورشو. زنه يې لږ اوږده وه، خوبده نه معلوميده، د شونډو له پاسه يې نري بريتونه داسې معلوميدل، چې د دوو منګريانو بچي يو او بل ښکلوي د صفورا له وړوکتوبه له کريم استالفي سره مينه وه، خو هغه مينه تنکی وه، چې دوی ځوانان شول، ددوی مينه هم پخه شوه.

صفورا او کريم استالفي هره شپه د ډيډی لاندې د دووجوړه کوترو په شان خپل غومبرو نه وهل او کله به سره ټونګه په ټونګه کيدل.

يو وخت داسې وشول، چې لالا فيضو ته د اسلم د زوی جرګه راغله. اسلم قصاب پنځوس زره افغانۍ ولور هم په ځان ومانه.

لالا فیضو ور سره ومنله او د سه شنبې په شپه یې د دستمال ورکولو وعده ورسره کیښودله. یعنې دوه شپې وروسته. صفورا خبره شوه، چې دوه شپې وروسته د اسلم قصاب د زوی خوراک کیږي، نو ځکه کور ورته تنور شو. لکه مار چې چیچلې وي، کله به د بام سر ته وختله او کله به انګړ ته راکوزه شوه. ماښام چې کریم استالفی بیا دارې بوره او وړې دړې په بوجۍ کې په شا کړې وې او کور ته راغی؛ ځنګه چې په دروازې راننوت، صفورا ورته په بیړه شروع وکړه.

- کریمه! سبانه بل سبا، ماد اسلم قصاب زوی ته ورکوي، یا مې نن شپه چاره وکه او یا نو سرله نن شپې نه زمورږ کور ته را نه شي.

د صفورا له دې وینا سره د کریم استالفې په مغزو کې د شړنګ اواز وشو او د غم زنګونه په کې وغږول شول. بوجۍ په شاشخ لکه وچ لرګی پاتې شو. مغزو کې یې نور طاقت نه وپاتې چې څه په کې و سنجوي، لکه مړي نه چې اواز خیژي، ایله دومره یې صفورا ته وویل:

-نو ځنګه وکم صفورا، چاره ته وسنجوه؟

لکه چې صفورا په شپو شپو خپل پلان سنجولی وي، او د ځان په باره کې یې فکر کړی وي، بې له ځنډه یې کریم استالفې ته په چټکۍ وویل:

- نن شپه باید له دې کوره وتښتو ځان استالف ته ورسوو.

صفورا، خبره وکړه، خو داسې ښکاره شوه، لکه چې دیوال ته یې کړې وي. د کریم له خولې نه هیڅ ونه و تل. صفورا بیاورته په تندۍ وویل:

- پوه شوې؟

د کریم زنګ کوې شوی و. نور تری غږ نه شو پور ته کیدای. په پټه خوله لاړ، داړې بوره یې د خسو په کوټه کې خالي کړه او له صفورا نه د مخه په زینه پایه وخوت او خپل خلیفه ته یې وویل، چې لرګي یې راورسول. او بیا په پټه خوله، خپلې کوټې ته چې د لالا فیضو د انګړ په خولې کې وه راغی، خپل سر ته یې دواړه زنګو نه اړم کړل او په خپلو اوږو دو او نا امیده هیلو کې ورک شو.

د لالا فیضو ښځې ور ته په کاسه کې کتغ او دستر خوان کې ډوډۍ را وړه، ترڅنګ یې ورته کیښوده، خو کریم استالفي د خپلواند یښنو په لوخړو کې دومره ورک و، چې د لالا فیضو د میرمنې په تګ خبر قدرې هم نه شو. هغه وخت یې له زنګنو سر راپورته کړ، چې لرې او نژدې چرګانو په بانګونو پیل وکړ. کله چې یې د چرګ اواز واورید، غوږونه یې لک شول او مغز ویې په کار پیل وکړ. خو لکه برقي انسان ګونګ او کوې له کوټې راووت. خپلې زړې ګاولې یې په لاسو کې ونیولې او د زینو په پوړیو کې د بریښنا غوندې وخوت او هغې کوټې ته ورغی چې صفورا په کې اوسیده صفورا په هماغه نیمه شپه ایښه مخ ته ایښی وه، په ستر ګو یې سلایي کشوله ورننوت، هغه یې په اینه کې ولیده، زړه یې وغوښتل چې خوله پرې خښه کړي، خو په بدن کې یې ویره او لړزه ورننوتلې وه. وروبې د صفورا په وچولې خپلې لړزیدلې شونډې کیښودې او ورته ویې ویل:

- د تیښتې وخت دی.

صفورا، له ډیره وارخطایي نه تکری هم هیر کړ. لوڅ سر اولوڅې پښې د پلار له کوره شینګړې شوه. په دې فراري ناوې او زوم باندې د کابل د اسمان

ستوروانوراو پلوشې شیندلې. او د شترخانې کوڅو ورته خپله سینه پراخه کړې وه، چې دوی پرې وزغلي خو چیرته لاړشي او چاکره لاړشي. د کریم استالفي کور خو د کوهدامن د غره په لمنه کې و. هلته ورتګ دومره اسانه کارنه و. اخریې د عبدالله جان زرګر کور تخته پل ته ورغلل، زرګر په لومړي ځل کې د دوی ډیر ښه درناوی وکړ، صفورا ته یې خپلو کوچنیانو او کریم ته یې خپل زوی سره ځای واچاوه، خو سبا د وخته چې کریم غوښتل استالف ته لاړشي، عبدالله جان زرګر دوی د استالف د تګ نه منع کړل او په پته یې حکومت ته رپوټ ورکړ. لمړ لا داستالف په شمله نه ولګیدلی چې صفورا او کریم استالفي یې د کابل ولایت ته بو تلل.

د کابل په ولایت کې د سود خور لالافیضو د پیسو او خسیس توب له امله صفورا د ښځو په زندان کې او کریم استالفي د نارینه و په زندان کې کینول شول. کریم استالفي به پریږدو په زندان کې چې هر څه پرې راځي؟ خو کیسه به د صفورا وکړو:

صفورا چې د لومړي ځل له پاره قدم د زندان په حریم څه کیښود د بندیخانې د سر پرست قوماندان ویښته یې ښکلا ته زیږه شول، زړه یې غوښتل چې نیغ په نیغه صفورا غیږ کې وزبیښی، خوله نورو زندانې ښځو نه وویریده. صفورا قوماندان هغې کوټه کې وا چوله کوم ځای کې چې شابې بې بندي پرته وه چې دې ټیټ همته او ناځوا نه قوماندان دځخه یې خیر نه وکړی وهر شپه یې د هغې په لمنه داغ لګاوه. د صفورا چې په شاه بې بې باندې سترګې ولګیدې له واره یې تری پوښتنه وکړه:

- خو رکې ته هم بندي یې

چې نه وای دا ظلم خانه ما څه کوله؟۲۷

- میړه دې شته ؟

- زه کونډه یم، وایي چې تادې خاوند وژلی دی.

په دې وخت کې د صفورا سترګې نیغې د شابي بي په ګیډې ولګیدې. په تعجب یې ورنه په بنده ژبه پوښتنه و کړه:

- شابې بي له شرمه سترګې کښته واچولې، نور یې هیڅ ونه ویل. دومره یې له یو اوسیلي سره وو یل:

- بیا به یې وپیژنې.

-په دغه ورځ د شابي بي سترګې په کاسوکې ننوتې وې. په شا بی بي تور تور دا غونه پیدا شوي وو. ایله دومره یې صفورا ته وویل:

- ښه ده چې راغلې، که زه ناروغه شوم ته به مې ...

شابي بي ، لا خپله خبره نه وه تمامه کړې چې د بند یخانې سر پرست قوماندان په خندا او لکه مست لیوه راننوت. په داسې حال کې چې خولې یې په لاس کې نیولی وه، ددوی د کوټې ور یې پرانیست او ور داخل شو او په خندا یې صفورا ته وویل:

- هر کله میلمنې، د زندان کوټه په تا رڼا شوه.

صفورا هیڅ ونه ویل او شابي بي خپلې ناروغې سترګې د صفورا په ښکلا ور خښې کړې او وپوهیده چې قوماندان له صفورا نه څه غواړي؟

قوماندان یو ځل بیا له هوسه ډکې سترګې د صفورا په پستو خپرو خنبې کړې، له ځان سره موسکی شو او ویې ویل:

- بیابه دې خدمت ته راشم.

له دې وینا سره، سر پرست قوماندان لاړ او صفورا د شابي بي تر څنګ غلې کیناسته. کله به یې د زندان چت ته کتل او کله به یې ځمکې ته. نه یې چت لیدی شو او نه یې د ځمکی رنګ، ځکه ټوله کوټه کې پیره د ننوتلو دروازه وه او هغه هم د باندې له خوا پرې کولپه وه او پیره دار ورته ولاړو. او یوه زړه کړکۍ یې د چت لاندې درلوده، چې د اوسپنې سیخونه په کې کلک شوي وو. دا لا په همدې چرتونو کې وه، چې شابي بي ورته وویل.

- او نجلی، ځان ته دې پام کوه، دا بندیخانه ده. خو صفورا ددې توري کوټې هیبت دومره ګنګسه کړې وه چې هیڅ یې د خطر احساس نه کاوه. شپه چې شوه، په شابي بي درد غالب شو، دومره درد چې هغې به خپله لمنه کلوله ګړۍ او تر غاښونو لاندې به یې ونیوله، چې چغه یې څوک وانه وري. صفورا هم لکه مهربانه دا یې د هغې شاته د ډډ غوندې ناسته وه. لکه چې یوه حادثې ته انتظار وباسې او تروره وه، چې شیبې تیریدې، د شابي بي له نري بدنه د درد او غم تودې لمبې لاپسې تودیدې. شا بي بي له ډیره درده په خولو کې اوبه اوبه وه او د سترګو ګاټې یې د سر په کاسه کې خنبیدل.

بندیوانه شابي بي د مرګ او د ژوند په پولو کې لوڅې پوڅې کولې او صفورا دواړه اوږې په خپلو پستو خپرو کې ټینګې نیولې وې. د شابي بي عقل او هوښ دردونو وژلی و، خو یوازې سخته شابي بي پاتې وه، چې ددې په لوغړنه او وریته سینه کې کښته پورته کیده. کله به یې په درد کې مور

سترګوته ودریده ، کله پلار ، کله به یې خور او کله نور کلیوال ، خو چې په سد به شوه ، وبه پوهیده ، چې د زندان د تورچت د لاندې د صفورا غږ کې پرته ده . په دغه غورزو پرځو کې یې ناڅاپه له خولې وو تل :

-صفورا !

بندیوانه صفورا ، لکه ویده ښاپیرۍ په دې باندې خوره وره راټیټه شوه ، خو دا هغه وخت و ، چې د شابي بي ساه له سینې نه وتلی وه .

او د بندیوانې مور له ګیډې نه یو تنکی بې ګناه ماشوم د بندیخانې حریم ته قدم کیښود .

بندیوانې شابي بي ، خو ساه ور کړه او ځان یې د بندیخانې له ګناهونو نه خلاص کړ ، خو خپل ماشوم او صفورایې ګناهګارانو ته یوازې پریښوده .

صفورا د زړې دا یې په شان ، ماشوم د بندیخانې له غولې نه پورته کړ او د مړې مور په ریتاړي او شلیدلي څپونو کې یې غونډ کړ .

ماشوم ژړلې ، له خپلې مور نه یې شیدې غوښتلې خو د مور ستړې ساه یې د څلورم اسمان نه هم تیره شوې وه .

صفورا مجبوره وه ، چې ماشوم د مړې مور سینې ته وغورزوي ، تر څو د ماشوم د شرم ژړا خپه کړي .

د صفورا بدن د شابي بي بې روحه جسد او د بندیخانې تیارې وار په وار زیږاوه . د هیبت ، دهشت او وهم کندوته یې را کشوله . دویرې یې په سروغومبرو تودې خولې را ماتې شوې . بدن یې په لړزو شو او له عقله بیګا نه

کیدله. کله کله به یې زړه وغوښت، چې سرله د یوال سره تر هغه و جنګوي تر څویې ما غزه له سره توی شي. اسمان تر لړي لړي و، ځمکه ورته تنوروه نه پوهیده چې څه و کړي په چرتونو کې ورکه وه، چې د بندیخانې دوازه خلاصه شوه چې تیرما سخوتن و، په ټول زندان کې د سکوت لوګی تیت و، کله کله به د زندان د پیره دارا نود (خبردار)، اواز او ریدل کیده.

کله چې د کوټې دروازه خلاصه شوه، صفورا د بیرون رنا یې ته د سر پرست قوماندان ناولې حیړه تر سترګو شوه. لکه تر هیدلې او ویریدلې هوسې ودریده. قوماندان چې په مستیوسر و، را ننوت او په ورو یې دروازه په ځان پسې وتړله. په مد هوشۍ یې صفورا ته وویل: شا بي بي څه وزیږول ؟

صفورا له هیبته ګونګۍ وه او له ویرې نه لکه د مني پانه رپیدله چې قوماندان خپلې خبرې بیا پیل کړې:

- یوشمعه مې راوړې، وه به یې لګوم ... دې رنا ته به ستا د مخ اور، زما د زړه اور سوړ کړي.

له دې وینا سره قوماندان شمعه ولګوله. د کوټې په کونج کې یې د یوې وړې ډیرۍ په مخ نیغه کړه، چې شاته یې وکتل، ناولې اوپلیتي سترګې یې د شابي بي په جسد او کوچني ماشوم ولګیدې هغه مړي ته د خو نخو رانو غوندې وړاندې شو د هغې لاش او جسدیې په پنبه وواهه د هغې له سینې نه کوچنی په ځمکه وغورزیده. صفورا، له ویرې د یوال ته تکیه شوه او قوماندان په بد مستې نیشخند، صفورا ته مخ کړ، لکه وړی لیوه. غوریده او ویې ویلې

-مړه ده ؟ ښه شوه، اوس له زندانه خلاصه شوه، سبا به یې په کتاب کې ولیکو، چې د شا بي بي د بندموده پوره شوه.

د دې وینا سره سم نیغ په مستۍ د صفورا، خواته ورغې. د وحشي

PROPERTY OF PACKU 12672

غوندې یې په هغې حمله وکړه او د هغې تنکی اوپاک بدن یې خپلې ناولې سینې ته کړاو په زبیښلو یې پیل وکړ. په دغه وخت کې، د صفورا پیغلو مغزوته د خلاصون الهام راغی، یو ملکوتي الهام.

صفورا، ناڅاپه د ویرې او وهم له عالمه د عقل او بیداری د هوښیاری او تدبیر عالم ته ورګډه شوه، حالت یې بدل او یوه مهربانه او وفاداره معشوقه یې له ځانه جوړه کړه. په ډیر محبت او مینې یې قوماندان ته وویل:

ولې وارخطا یې؟ زه د تایم ګرتې دې وباسه، تمانچه دې هلته کیږده ... بیا به پا آرامه...

قوماندان وپوهیده، چې مزې چرچې تو دیرې او دښکار دا پسته غوښه باید په مزو مزو او نشونشو وخوري. په ډیرې بې باکۍ یې د صفورا له سره ټکرې راپورته کړ، د کوټې د غولي په ګوټ کې یې واچاوه. په بیړه یې خپله کرتې اوخولې وربانديې کیښودل او د خولې له پاسه یې خپله ډکه تومانچه ځای په ځای کړه،

او دخپله برچه یې هم تومانچې ته څرمه کیښوده. صفورا یې د بې وزرو کوترې غوندې په غیږ کې ونیوله او د ټکرې د پاسه یې د مامیایي بت په شان کینوله، له صراحي غاړې نه یې خپل مجرم مروند ونه تاو کړل او دنهارغنا ور په شان یې د هغې تنکۍ خولې ته حمله کړه، خو صفورا مجال ورنه کړ. د هغه پلیټي خولې ته یې خپل لاس ونیو او چې له قاره لرزیده په ساخته ګي مهرباني یې وویل.

- کومبدان صیب، د کوټې دروازه زنځیر کړه، چې پیره دا رانه شي، بیا به زه او ته کراره...

قوماندان چې د کوټې ورته ورغی، صفورا د یوې جنګیالۍ پیغلې په

شان په بیړه برچه له غلافه راوویسته او لکه د زمرې غوندې یې په قوماندان ورټوپ کړل، څو قوماندان مخ اړاوه دې دبرینښنا په شان د ناولي قوماندان له ځیګره برچه تیر او بیر وویسته.

د قوماندان له خولې نه ((اخ)) قدرې هم ونه وتله او لکه چینجو وهلی ډډ له ریښو سره د تیارې کوټې په مخ راغوزار شو. تا به ویل چې د دې نمرود او پلیت انسان په مرګ مړه بندیوانه شا بې بې افرین وایي او د بندیخانې دیوالونه پرې نفرین او لعنت.

صفورا، په ارامه کیناسته د بریښنا او تندر غوندې یې په برچه د دریچې یاوړې کړکۍ د چوکاټونو شاوخوا یې په بیړه بیړه، ورانول. یو وخت شو، چې کړکۍ یې په منګولو را کش کړه، کړکۍ نیغه له دیوالـه جلاشوه. صفورا لومړی تومانچه خپل لاس ته کړه او بیا یې له کړکۍ نه د باندې سرو ویست، ویې کتل چې د کوټې دیوال چندان جګ نه دی او د کړکۍ د باندې د خاورې ډیرې پرته وه. په بیړه یې ماشوم د هغې د مور په ټیکرې کې تاو کړ او بیا یې خپل ټیکرې ورته رسې کړه، په یوسرکې یې ماشوم غوټه کړ او بل سر یې په لاس کې ونیوه، کوچنی بندیوان ماشوم یې په داسې احتیاط د کړکۍ له لارې نه د باندې ځمکې ته ګوزاوه چې تابه ویل د څټو منګی څاته کوزوي.

صفورا چې وپوهیده، کوچنی له زندان نه ازاد شو، په خپله هم تومانچه په لاس د بناپیرې غوندې کړکۍ نه والوته او له کړکۍ نه یې ځان د زندان له نا پاک حریم نه د باندې ګزار کړ.

صفورا یا بندیوانې نجلی له زندان د باندې ځان ازاده ملکه و باله او خیال ته یې را غلل، چې دنیا یې تسخیر کړه او د ظلمونو پنجرې یې ماتې کړې

دي. په داسې حال کې چې د شابي بي ماشوم يې په غېږ کې نيولی و ، لوڅ سراو پښې ابله مخ په نو اباد په تر پله او منډه شوه حيرانه وه ، چې بيا د چاد کور دروازې وټکوي ، چې دې او واړه بندي ته ځای ورکړي ، خوله خپل قسمته څه خبره وه چې څه به کيږي ؟

په هماغه شپه چې صفورا له کړکۍ نه ځان غورزاوه د دې د پښو درب د بام پيره دارلک څک کړی و . او د زندان ديوال شاوخوا ته په ترسد او څارکې و ، چې سترګې يې په بنديوانې نجلی ولګيدې چې له زندان نه تښتي پر ته له دې چې د (دريش) غېږ ورته وکړي د توپک توره خونې خوله يې پرې راکښته کړه . د ماشې په يو کش سره يې صفورا او کوچني بندي په ځمکه وکرل. شپه ډيره تيره وه د توپک په ډز سره د زندان په داخل کې شوراو شرپيل شو خو له زندانه د باندې د وتلو خيال نه پيره دار وکړ او نه اوالدار . چې سبا شو هلته د زندان له يوې تيارې کوټې نه د سر پرست قوماندان جنازه او د يوې بې ګناه ګناهګارې جنازه پورته شوه .او دلته په نواباد ، ده افغانانو کې د پاکې صفورا او کوچني بي نومه بندي مړي په قول اوچکان کې خاورو ته وسپارل شول.

چابه چې صفورا پيژند له ده دې په پلار لالا فيضو به يې لعنتونه ويل او ده افغانانو زړو ښځو به په ويرکې ويل:

دفيضو سود خور ټول وجود دې په اور کې وسوځي. *

---

*نام مجموعه: سوزبدلې شمع
ناشر: انجمن نويسنده گان افغانستان، کال: ۱۳۶۷ هـ.ش.

احسان الله آرینزی

فراري

سره له دې چې زما عمر دوولسو کالو ته رسېدلی و ، بیا هم د خپلې مور له خوږې غېږې څخه نه لیرې کېدم. ښه مې په یاد دي هغه ورځ ما د خپلې مور غېږ ته پناه وړې وه چې د اوښکو تروه مزه مې وڅکله.

کله مې چې سترګې پرانستلې ، مور مې ورو ، ورو ژړل او رونې اوښکې یې په سترګو کې له ورایه ځلېدې.

زه وبیرېدم ، ناڅاپي مې د مور له غېږې څخه ټوپ کړل او پوښتنه مې وکړه :

- ولې ، مورجانې ؟ څه ټکه رالوېدلې ده چې داسې اوښکې تویوې ؟

هغې څه ونه وېل او بلې خواته یې وکتل. خو ما راتېنګه کړه او بیا مې وپوښتله ولې ژاړې مورې ؟ ماته ووایه چې زړه مې چوي.

دا ځلې هغې په ژړه غوني ا واز ځواب راکړ :

جنګ دی بچیه!

سره له دې چې زه مې د خپلې مور د خبرې په ټوله مانا پوه نه شوم خو د هغې کراري ژړا د یوه تراخه واقعیت منلو ته اړ کړم.

دري ورځې وروسته، مور د کلي له جنګیالیو سره د خدای پامانې لپاره راغونډ شوي وو. نور ډېر کلیوال هم هلته حاضر وو. له هرکور څخه یو سړی له روسانو سره د سترې جګړې لپاره چمتو شوی و.

له کلي څخه اوږده کړلیچنه لار، په غره کې د جنګیالیو غازیانو د پوځي اډې خواته غزېدلې وه. هلته د نورو کلیو جنګیالي هم راټولېدل او بیاد دښمن په نویو اډو د حملې لپاره روانېدل. هلته داسې ګونګوسې وې چې ستره او اوږده جګړه په مخکې ده.

څو شپې وروسته د هرش پنځه د هرش ځوانان او پاخه سړي له خپلو ماشینګنیو سره د غره په لور وخوځېدل. ځینو څوځو ځلې شاته را کتل او خپل لاسونه یې خوځول.

زما پلار د تګ په وخت کې زما مور له نورو خلکو څخه بېله کړه او ورته ویې ویل:

-تګ ته مې زړه نه کېږي... دا ډېر لوی جنګ دی... پښې مې سمې نه ځي... کشکې نه وای تللی!

مورمې په تنده لهجه ورته وویل:

- دا خبرې ستاله خولې سره بدې ښکاري. کشکې دا خبرې مې له تا څخه نه وای اوریدلې... دا ومنه که زه نارینه وای. ځان به مې لس ځلې په دې جنګ کې وژلای وای...

پلار مې شااوخوا وکتل او وروغوندې یې وویل:

- د جنګ خوږې خبرې، وخت یې تریخ دی! اوس خو دا خبرې کوې خو

که ته رښتیا زما په ځای وای، بیا به دې بل شانې فکر کاوه... ګلدوست اکا وایي څوک پکې خانان شول، د چالاړې ارتینې پکې!...

خدای ښه پوهیږي چې زما د مور او پلار مرکې به څومره دوام کړی وای، که د سرګروپ آواز نه وای جګ شوی:

-شاګله مرکه لنډه کړه چې ناوخته شو.

ما د ګروپ لاره څارله. دوی په یوه کتار کې ورو، ورو خوځېدل او په مخ تلل. نیمه ګینټه وروسته ټول جنګیالي له ستر ګو څخه الوینه شول او په غونډې واوښتل.

سپین سرو او ځوانو ښځو بیا د دوی ټولو لپاره د دعا لاسونه پورته کړل او په داسې حال کې چې ځینو لا هم ورو، ورو ژړل خپلو کورو ته ستنې شوې.

په چینو کې اوبه د پخوا په شان را خوټیدې، د لمر زرینې وړانګې همغسې را پریوتې او مرغانو د پخوا په شان سندرې بللې خو لږ کسان ورته هوسېدل. په کلي کې هر څه بدل شوي غوندې ښکارېدل. ډېر نارینه جګړې ته تللي وو او ځنې نور په غره کې د جنګیالیو په اډه کې پراته وو. له کلیو څخه د مستیو او خندا ګانو کډې بار شوې او په ځای یې چوپتیا، غم اووینو اړولې وو.

یوه ورځ جومات ته د ګل خان لیک راورسېد، ګل خان هم په همغه لومړۍ ډله کې تللی و. دا په تېرو دوه دریو میاشتو کې د پردیسیو لومړنی لیک و. ګل خان ویلي و چې کلیوال ټول روغ رمټ دي او لیکلي یې وچې غلام

نبي او جمال ډېره توره کړې او د ټولو سرونه يې هسک کړي دي. لکه چې دا دري واړه هلته تپيان شوي وو!

لوستونکي بيانور ليک په پته ولوست، دوه دري ځلې يې شا او خوا وکتل او د ګل خان او نورو انډيوالانو سلامونه يې خپلو خپلو کورنيو او انډيوالانو ته ورسول.

دا وخت دوه دريو کسانو هڅه وکړه چې ليک ترلاسه کړي خو ملاصاحب هغه په جبب کې کښبود او د اذان لپاره پاڅېدو:

-الله اکبر... الله اکبر...

مابنام و چې زه کورته لاړم. که ګورم چې د مور سترګې مې تکې سرې اوښتې دي او ژاړي. ما غيږه ځنې چاپيره کړه:

- ولې مورې؟... بياځه شوي دي چې ژاړې؟

هغې هيڅ ځواب رانکړو او همغسې يې ژړل. ما ورته وويل:

- مورې... نن د ګل خان اکا او زما د پلار نورو کليوالو خط راغلی و، ملا صاحب ټولو ته ولوست. نبي، غلامی او جمال تپيان شوي دي نو ته ولې ژاړې؟ زما پلار خو شکر دی جوړ دی.

په داسې حال کې چې زما د مور ژړا نوره هم زياتېده له، ويې ويل:

- کشکې ستا پلار هم تپي شوی وای... کشکې مړ شوی وای! زما او ستا سترګې به يې په ټولو کليوالو کې جګې کړې وې...

زه هک پک ولاړوم چې مور مې ولې دا خبرې کوي، په چرت کې ډوب

شوم. دا وروستۍ پنځه- شپږو ورځې هغه ډیر خپه وه. ډوډۍ یې نه خوړه، رنګ یې ژړ شوی و او تل به یې سترګې سرې سرې ښکاریدې، زه ایله اوس پوه شوم چې هغه ژاړي...

دا وخت په کلا کې د پاده وان برغ شو او زه د مال د خوندي کولو لپاره ورغلم.

ستون شوم. ناڅاپه مې د مور تندې خبرې واوریدې:

- ډوډۍ په تا حرامه ده... ته کله په حلاله ډوډۍ ارزې؟

زه سمدلاسه غلی ودرېدم او غوږونه مې څک کړل:

- تا داسې کار نه دی کړی چې زه به چاته جګ وګورم، تا زمور سترګې د تل لپاره تیتې کړې، تا ټولو ته وشرمولو!

زه لانه وم پوه شوی چې مور مې له چاسره خبرې کوي او دا ولې دومره په غوسه ده. ما ویل دا څوک دی چې دومره سپکو سپورو خبرو ته یې غوږنیولی دی او هیڅ نه وایي.

دومره پوه شوم چې کوم بد کار شوی دی، یوه ټکه رالویدلې ده او یو پیغور راته جوړ شوی دی. ناڅاپه مې یو فکر د بریښنا په څېر په ما غزو کې وغځستل:

- نه چې پلار مې را تښتیدلی وي؟!...

دې فکر زما پښې کرختې غوندې کړې، زړه مې ټوپونه ووهل او په سترګو کې مې اوښکې راپیدا شوې.

بیا مې هم د خپلې مور خبرې واورېدې:

– زما او ستا په پلار نیکه کې خو چا داسې بې غیرتي نه وه کړې، تا دا چم چېرته او له چا څخه زده کړ!

لکه چې کوم نارینه هم څه وویل، مګر آواز دومره کمزورې او تېټ و چې ما هیڅ وانه وریدل.

مور مې بیا هم وژړل:

– دې ټولو ته دې وشرمولو. زه به د بنځو له پیغور څخه او به شم... او زوی به دې... تر مرګه پورې چا ته جګ ونه شي کتلای، داسې بې غیرتي دې خدای د چا دښمن ته نه ورپېښوي، نن وي که سباوي خلک خبرېږي. یا به څوک راشي او یا به خط راوسیږي چې شاګل له جنګ څخه تښتېدلی دی ء ته به تر کله پورې دلته پټ ناست یې؟...

اوس نو زه پوره پوه شم، په سترګو مې توره شپه شوه، سر مې وچورلید او د کلي د ملا د پرونیو کړو په مانا پوه شوم چې مازدیګر ېې د ګل خان د لیک لږه بر خه ونه لوسته او شا او خوا یې وکتل. زه ایله اوس پوه شوم چې کله د ملاصاحب سترګې په ما ولګیدې، لږ چورتي غوندې شو.

زما خپلې مورته ډېره خوابده شوه، ځان راته بې غیرته او د پیغور وړښکاره شو. ټول وجود مې په خولو کې لوند شو. زړه مې وغوښتل چې پخپل پلار ګولی وچلوم... بیا مې د خپلې مور ژړا او خبرو ته غېر شوم:

– زه دې نور په کور کې نه شم پټولای، دا بې غیرتي ده. په وطن مو روسان را اوښتي دي. خلکو د روسانو د مخنیوي لپاره د وینو سیلاب جوړ

کړی دی خو ته جبهه پرېږدې او کور ته راتښتې... زما پورنی د لویدو په حال کې دی خدایه!...

د مور خبرو ډېر په غوسه کړم. زړه مې وغوښتل چې کوتې ته وروډانګم او خپل پلار تر ستونې ونیسم. زړه مې وغوښتل چې هغه لویه چاړه د هغه په ګوګل کې ښخه کړم چې د مور زړه مې پرې یخ شي.

بیا مې هم د خپلې مور آواز تر غوږه شو:

– زه همدا اوس ګلي ته ځم او ناري وهم چې یه خلکو، زما شاګل را تښتېدلی او کور ته راغلی دی. خلک هسې هم خبرېږي، دا به ښه وي چې زه یې خبر کړم، نور مې زړه پرق چوي. که زه دا کار و نه کوم سبا به د کلي ښځو ته د جګېدو سترګې نه وي را پاتې... زه نوره دا د تیتو سترګو غلا نه شم کولای، ستا تینبته یو شرم دی او دا چې ما په کور کې پټ کړی یې دا بل شرم دی...

دا وخت زه هم د کوتې په دروازه ورننوتم. پلار مې په هغه کونج کې ډېر بیچاره ناست و، د کوتې په مخامخ دایوال ماشین ځړوند و. زه ماشین ته ځیر شوم او زړه مې وغوښتل چې هغه لوی جاغور یې پخپل پلار تش کړم. مور او پلار مې هم ماشین ته ځیر شول.

پلار مې ورو وژړل او ویې ویل:

– نور مې مه ځوروه... ستا خبرې لکه د تورو ګذارونو داغ داغ کړم، زه همدا اوس بېر ته روانېږم.

زما د مور وچولی وغوړید:

پلار مې بیا هم وژړل:

– بس کړه نور، زه ځم او تر څو چې ژوندی یم، بېرته نه راځم.

مور مې خپل پوړنی په سر سم کړ او خوشحاله غوندې شوه:

– کشکې ته داسې وکړې. په ما او په ځان او پخپل او لاد ورحمیږه، په هغه لاره چې راغلی یې، بېرته ستون شه خو پام چې څوک دې ونه وینې.

څو شېبې لانه وې تیرې چې پلار مې ماشین پورته کړ او بې له خدای پامانې په بېړه له کوره ووت او مصمم روان شو.*

*مجله: (داستانونه) شماره اول، ۱۳۷۷ هـ.ش.

امین الله افغانپور

موسکا

تورې غټې خمارې سترګې یې زما توجه جلبوي. ور نژدې کیږم ښه ور ته ګورم؛ نه اشتباه مې نده کړې. سره نښتې تورې ګنې وروځې یې دي. جګه نرۍ پوزه چې چارګل یې پې تومبلی. غنم وزم ګرد مخ او هسکه غاړه. سرې چاودې شونډې. له پیکې نه یې تیک ځوړند دی او تورې اوږدې کوڅې یې د مټو په اوږدو کې د مجنون بید په څیر را خوږې دي. د تور کمیس ګریوان یې شکیدلی دی او زما نظر لاپسې خپلو تر کمیسه لاندې ښکلا ووته ور کاږي.

په داسې حال کې چې موسکی ده خو د موسکیو شونډو له پاسه یې زه د یوې ترخې خندا سیوری وینم. د هغې شاته لرې، یوه توره زړه کیږدی ده. یو اوښ هلته لرې د کیږدی کین اړخ ته په ګونډو دی اوظاهراً شخوند وهي. یوه بوډی پر تورې تبې باندې ډوډۍ پخوي او د کیږدی ښي اړخ ته څوزې ګرځي او لکه چې د وزو خواته دولاړ غټ او لنډې سپې نیت هغوی ته ښه نه وي.

هو. دا کوچۍ ده. زما خپله کوچۍ زما د خپل وطن کوچۍ لکه چې په چوکاټ کې یې زړه تنګ شوی وي. بیا هم ماته ګوري او لکه چې ست غواړي. ړه ست ور ته کوم چې راوو ځه! خبرې سره وکړو. زما هم زړه دلته تنګ دی. زه

هم ستایو وطنوال پردیس یم. راته وایي؟

ته دلته څه کوې؟

ځواب ور کوم:

- نه پوهیږم. دنیالویه ده زه هم ستا په شان لا لهانده ګرځم.

بیا هم ترخه موسکا ډاریږي، یا خو شرمیږي چې راووځي. له ګنه ګونې څخه ویږي او ښایي هم د سالون تردوخه، دسګار د لوګیو اود ویسکي تند بوی د ښځو او نارینه وله خولو سره د عطرونو د ګډو شویو ډډوزو احساس ورته ګران دی او طبیعت یې ور خرابوي. د لوی سالون د چلچرا غونو تیزه رڼایې سترګې ور بریښوي هره خوا د ښځو د ډیرو قیمتي جامو څنډې دي چې د هر وار تاویدو او نازو نخرو سره څپې وهي. ددغو ښځو په سترګو کې د اقناع شوو هوسو نو او شهواتو ننبې له ورایه ښکاري .هروار چې د خپلو شرابو له جامو نو څخه غږپونه وکړي نو خپلې سرې او له شهوته ډکې شونډې په ډیر ظرافت سره په سپینو دسمالو پاکې کړي. زه د کوچې لالهانده سترګې وینم چې په تلوسه هغه کاغذي پاسته دسمالونه څري چې دغه ښځې یې وروسته د خپلو شونډو تر پاکولو هیسته په یوه ټوکرۍ کې غورځوي زه هماغسې ولاړیم او د کوچې سترګو ته ګورم ورو پوښتنه تر ې کوم:

- نوم دې څه دی؟

په موسکا او شرم سره ځواب راکوي:

- موسکا.

په سالون کې ټول ناست او ولاړ میلمانه، ښځې او نارینه، ځوانان او

پیغلې او ماشومان په بې غمۍ سره خبرې کوي. یو ګورم چې د یوې ښکلې ښځې - چې طلایي ویښتان یې دي، په غاړه کې لاس اچوي او خبرې ورسره کوي. او کله کله یې په اننګو باندې ښکل کړي په زړه کې وایم چې کاشکې دغه صحنه موسکا ونه وینې. خو وینم، چې د موسکا پر تندي باندې د شرم او حیا خو له ځلیږي. بله خوا یو ځلمی وینم چې د یو پیغلې په لنډو خرمایي څنیو کې ګوتې تیروي او ورو ورو یې په غوږ کې د مینې سندرې وایي. د موسکا خمارو سترګو ته ګورم چې په یوه ټکي باندې نښتې وي او لکه چې له ځان سره سوچ کوي:

- منګی یې پر اوږه نیولی دی ګودر ته روانه ده. هلته لرې شپونکی د ګودر خواته یوې ونې ته تکیه کړیده او له سوزه ډکه شپیلۍ غږوي. موسکا ورو ورنژدې کیږي او ځلمی شپونکی شپیلۍ بندوي او په موسکیو شونډو ور نژدې کیږي او چې موسکا دا حال وویني نوژر ترینه تښتي او شپونکی تر شونډو لاندې زمزمه کوي:

- د ګودر هر بوټی دارو دی. چې په لګیږي د جنکیو پلونه. او په موسکا پسې منډه اخلي. وینم چې د موسکا شونډې رپیږي او لکه چې له خوبه پاڅیدلې وي ژر ژر خپلې سترګې رپوي. ددې اوږده فکر مزی یې په سالون کې د یوې مستې پیغلې کټ کټ اوسندر یزه خندا ور پریکوي چې د یوه ځوان په کومې خندنۍ خبره باندې داسې بې دریغه خاندي.

موسکا ماته ګوري. لکه چې پوښتنه کوي:

- څه چل دی؟

زه هم نه پوهیږم. څه ځواب ورته نلرم. یو ځل بیاست ورته کوم:

- راوځه کنه!

داوار لکه چې زړه ورە شوې وي په شرم شرم ورو ورو رانژدې کیږي. خپل چاودي او خیرن لاسونه تر تیکري لاندې پټوي له لاسونو څخه د ټولو ښځو او نارینه و ځوانانو او پیغلو لاسونه تک سپین، پاک او عطرجن له خپلو خیرنو لاسونو څخه سخته شرمیږي.

هره خوا چې سترګې غړوي وینې د ټولو لاسونو کې دویسکي جامونه دي ورو راته وایي:

- دلته به څوک یو جام اوبه رانه کړي تږی یمه. او به ورته راوړم شا اړوي په سر باندې لاس ږدي او به څښبي او بیا شکر کاږي په خیرن لستونې باندې خپلې شونډې پاکوې او ورو پوښتنه را څخه کوي:

- دا څوک دي؟

شاوخوا ته مې ګورم چې آیاد چا راته پام دی که نه؟

ځواب ورکوم.

- دا خارجیان دي...

نه پوهیږي. حق هم لري چې ونه پوهیږي. د یوه اوږده سفر په ترڅ کې چې ځان ۱۹ یې مورد مقر په سوزنده دښته کې زیږولې ده او تر هغویې پیژندلی دی، وچ او له ځوځانو څخه ډک ډاګونه، غرونه او کمرونه، سیندونه او کږ لیچونه یې لیدلي دي. تورې کیږدی او د اوښانو کار وانونه.

کوښښ کوم چې هغه وپوهوم خوسر یې پدې خبره نه خلاصیږي. پوهیږم چې دا (خارجیان) هم انسانان دي خو د هغوی لاسونه ولې ښکلي او پاک دي. ولې یې جامې نوې او پاکې دي. ولې یې لاسونه او مخونه سره او سپین او تنکي دي ولې یې د ماشومانو لاسونه خیرن او چاودي ندي. ولې یې شکیدلې جامې ندي په غاړه. ولې سره او سپین دي؟ او په سل ګونو نورې پوښتنې.

هر چا ته په ویره ویره ګوري. د ښځو ګانې چې تر چلچرا غونو لاندې ځلیږي سترګې ور بریښوي ښځه ذات ده نو په اول نظر کې یې سترګې پرګانې نښلي. خوله یې ټولو ته وازه خلې ده. پوښتم یې:

- بهر ته نه ځې؟

ژر موافقه کوي:

- دلته مې سابندیږي. درځه چې ووځو!

غواړم چې له اتم پورنه یې په لفت کې راکښته کړم لفت ته ورننوځو. د بد ګمانۍ نښې یې په سترګو کې وینم خو زه ژر ډاډ ورکوم:

- پدې ((ماشین)) کې ژر کوزیږو.

پوښتنه کوي:

- دا څه شی دی؟

او تر هغو چې زه ځواب ورکوم لفت مخ په ځوړه او کښته ښوئیږي د موسکا له مړۍ نه له ویرې او تعجب نه د ډک خوند کړیکه خیژي خوزه ور ته وایم:

- دا لفت دی په بربښنا باندې چالانیږي.

بیا هم نه پوهیږي. فکر مې ندی. پښه یې ترپښې لاندې کوم. چغه کړي:

- ژوبله دې کړمه!

او چې کښته گورم نو وینم چې پښې ابله ده. خیر نه پښه یې زماتر پښې لاندې چیته شویده.

له لفت نه را وځو او په بازار ور گډیږو. ارت واټ دی چې موټران سره کتار یو په بل پسې روان دي. د واټ دواړو غاړو ته د نگې اوښکلې مانۍ دریدلي او نیونې لوحې ستر گګونه وهي. زه هڅه کوم چې ویې لولم:

- د ((ستورو رستوران))، ((د طلایي چرگ تیاتر))، «مولن روژ» ((د عیش دنیا))، ((د علاالدین څراغ))، «طلایي بادبان» او ...

موسکا له لاسه ټینګ نیولی یم ډاریږي چې ورک مې کړي د هتیو دښیښو او هیندارو له شانه د ښځو تصویرونه ستر گګونه وهي. څراغونه بلیږي او تهیږي. رستورانونه خلک ور بولي. سره کړي چرگان د ښیښو له شانه په لوښو کې اینبودل شویدي. او زه وینم چې موسکا د ډیرې ولړې له زوره خپلې لاړې تیروي... څو گامه ها خوا، د سکس خونه...

د لوڅو او بربنډو ښځو تصویرونه او د مینې دلالان. هڅه کوم چې د موسکا ستر گې پر هغو ونه لگیږي. خو بیا یې هم وینې اوپه غریزي شرم سره مخ هیسته تری اړوي او ماته هم څه نه وایي. ښې لاسته یوه تیاره کوڅه ده. وینم چې تر نیمایي پورې لوڅې او بربنډې ښځې ناستې دي کچه خنداوې کوي

او ګپ ولي. دا ځل موسکا طاقت نکوي او پوښتي مې:

- دوی دلته څه کوي؟

نه پوهیږم څه ځواب ورکړم.

خو دروغ هم ورته نه شم ویلی په لنډیز سره وایم:

- دا بدې ښځې دي...

ور په یاد یږي:

- یو ځل مې له ابا سره کښته په (بنګال) کې ښار ته تللی وم. دغسې ښځې یې رابنودلې وې او را ته ویلي یې و چې دا بدې ښځې دي.

آرامه ساکارم او په زړه کې وایم:

- خدایه شکر چې له غمه یې خلاص شوم.

نژدې مابنام دی چې د ښار له مرکز څخه ورو ورو مخ په کلیو خو ځیږو. د سو یس طبیعت او په تیره بیاد لوزان ښار ډیر ښکلی دی همدا چې له کوچینو واټو نو څخه تیرشې دشنو او په ګنو ځنګلونه پتې غونډۍ دې نظر جلبوي چې مار پیچ واټونه پکې ایستل شوي دي او دغو نډیو په سرونو او لمنو باندې شلې (دلرګیو مانې) پرتې دي. دغه کلی ډیر ښکلی او زړه راښکونکی دی.

پرځنګلونو او غونډیو باندې نظر غږوم. موسکا مې ترمتې نیولې ده دد غو کلیو او غونډیو په باب خبرې ور سره کوم. څاڅکي اوري او موسکا په خپل تور تیکري کې ځان نغاړي او را ته وایي:

- یخ مې کیږي.

زه ډاډ ورکوم چې یوه ټاوده ځای ته به ولاړ شواو هلته به خوراک وکړو. هغه ما پوښتي:

- دلته هم نجونې په زوره ودیږي.

-یعنې څه؟!

- زه په تعجب سره پوښتنه ورڅخه کوم.

ځواب راکوي:

- په موږ کوچیانو کې خو دا چې یا به نجونې په ورکتوب کې ورکوي او یا به یې په زور ودوي.

- عجیبه ده!

- ولې تاته دې خپل ملک ندی معلوم؟

زه په بیړه موافقه ورسره کوم:

- همداسې ده خدایږو زما هډو فکر نه و. همدا اوس زما انجل راته سترګې په لار ناسته ده.

موسکا راته وایي:

- زه مې هم پلار په ورکتوب کې خپل تربور ته ورکړې یم...

ښایي په لنډو ورځو کې مانې ، خواره واره کلي او په شنو ځنګلونو پټې غونډۍ ځانته ور کاږي خو د موسکا په خبره سوچ کوم دا وخت د لرګیو

کورونه او مانۍ داسې راته ښکاري لکه چې تورې او خورې ورې کیږدی وي.

د «آلپ» له څو کونه یوه سپینه بخنه لړه پر دغو کلیو باندې خپره ده. او ماته داسې تر نظره رائي چې د کیږدیو څخه لوګی پورته وي د خپل هیواد د کوچیانو ژوند مې ستر ګو ته دریږي او تصور کوم چې دا لوګی د هغو او رونو څخه پورته دی چې تر تبیو لاندې بلیږي او ډوډۍ پخیږي... په حسادت سره موسکا پوښتم:

-سړی دې ښکلی دی؟ تندی تریو کړی او ځواب راکړي:

- داسې ښکلې لکه د (آدم درخو) په نکل کې آدم خان. د ستر ګو له کرنجه مې څاري او زما حسادت لکه چې خوند ورکوي موسکا دوام ورکوي:

- دنګه وینه، تورې څنې، غټې غټې ستر ګې، لیندې اوګنې ورو ځې او خیالي بشره، ارت ټټر او کاږه بریت...

او زه دغه تصویر خپل ذهن ته سپارم.

- څه نومیږي؟

زه موسکا په خپه مرۍ او هیجان سره پوښتم.

-کجیر.

او زه یو ځل بیا په خپل ذهن کې د کجیر تصویر را ژوندی کوم. خو په همدې وخت کې ووینم چې همدغه کجیر د یوې کیږدی خواته ټوپک په لاس ولاړ دی. او زما خواته نښه نیسي. هیڅ نه پوهیږم چې څه چل دی.

په تعجب سره وینم چې موسکا زما لاس پریږدي او د کیږدیو خواته

منډه اخلي. نه پوهیږم چې څه نکل دی. د موسکا بڼه په تور تیکري کې ورو ورو لوی او کوچنی کیږي مخ مې ځوان کوچي ته اړوم. په همدې وخت کې کوچې ډز را باندې کوي. د ټوپک له شپیلۍ نه خړلوګی پورته کیږي د ځوان کوچي د ټوپک ډزمې را په سد کوي او چې مخ مې بیرته سالون ته اړوم وینم چې د موسکا څیره په چوکاټ کې راته موسکی موسکی کیږي.

دننه په سالون کې د ښځو او نارینه وله شوره ډکې اوسندریږي خنداوې خپرې دي.

هلته یو پیش خدمت د ((شاه باني)) د نوي خلاص شوي بوتل له مرۍ نه ګوټ ګوټ شراب تویوي چې پرمیلمنو یې وویشي... *

برن. ۱۹۷۸ مارس

سویس . د ګیوم لیګین کلی

---

*نام مجموعه: موسکا

ناشر: د افغانستان د لیکوالو ټولنه، کال: ۱۳٦۲ هـ.ش.

عارفه عمرلور

زمور کوڅه

نن خدا یزده چې د راډیو ستن څنګه په هغه ځای برابره شوه، ځای خو یې راته معلوم نه شو، چې د کوم ځای راډیو وه، سملاسي یکې دا سندره راجګه شوه.

لکه رقیب په سر بدی دې کړله لکه کلکه

وه د تور تور څادر هلکه وه د تور

دې سندرې ما ته د ژوند ډېرې ترخې اوبدې ورځې را په زړه کړې، دا سندره ما هماغه کال په لومړي ځل واورېده، چې یوه شپېه مې هم په یو د ځای کې دمه و نه کړه، بېګاه سبا مې پنډ پر سر و، له کوره خیرخانې ته یو درجن بچو سره وتښتېدلو. له هغه ځایه شمال بدخشان ته بیا چترال ته واوښتو. پېښور ته راغلو، په کابل کې د لږې کرارۍ څرک ښکاره شو، را وخوځېدو، چې کابل ته لاړ شو. لا په جلال آباد کې وو، چې کابل کې بیا ناکراري شوه. بس په جلال آباد کې پاتې شوو. زما سړي په کمپونو کې د اوسېدو زړه نه کاوه، شاه مردخان سیمه کې مود کور والا سره په ګډ انګړ کې یوازې یوه کوټه ونیوه، چې نور هر څه مو په ګډه وو. هلته مې زړه ډېر تنګ و، د جلال آباد خلک ډېر ښه خلک دي، خو لږ ژر په غوسه کېږي، ښایي دا به د ډېرې

تودې هوا وجه وي. زمور د کور د خاوند ښځه به سهار او مازیګر په غورو وه، ډېره غوریالی وه، خو چې د غرمې ګرمې به زور شوه، نو دا به ور سره جوخته تر وه او ترخه شوه. زمور د کور مخامخ کور کې یوه زړه ښځه چې زرجانه ابی نومېده، د خپل کډې والا زوی سره اوسیده. په هغې خپل لمسیان ګران وو، ټوله ورځ به یې له ځان سره ګرځول ا ن په ویر کې به هم ورسره روان وو. د لمسي تجربه به یې لانه وه شوې چې دې به ټول کوڅه وال ښکنځلي وو. له مور نه یو څه موده پس د کوڅې سرته نوې کډه راغله، ویل یې چې د کابل مهاجر دي، هغه وخت خو مهاجرت دود شوی و. ان کلي په کلي د نورو کلیو مهاجر پراته وو. د کابل د مهاجرو شمېر خونه و معلوم. له نوې کډې سره یوه خنډۍ سره شنه زړه ښځه هم وه، چې د خپل زوم سره اوسېده هغې ته نود زر جانې ابی نه هم خپل لمسیان ډېر ګران وو. لا څو ورځې نه وې تېرې چې خنډۍ ترور د کوڅې په سرکې د خپل ورە تر مخې لاره بنده کړه.

کوچنیان یې په دې لار تېرېدو ته نه پرې ښودل. نه چې د دې د لمسیانو لوبې ور خرابې کړي او که تېرېده. به هم، په دې شرط چې که لمسیان یې دې وواهه یا یې وښکنځي، نو دا کوچني به ورته څه نه وایې په کوڅه کې به کله لږ شور ماشور جګ شو بیا به ژر غلی شو. خنډۍ ترور به د خپلو لمسیانو په پلوي ویل.

- یوله نسه خوار دي بل څېړه خواره هم شي.

-بس د خنډۍ ترور په راتګ سره هره ورځ کوچنۍ په مړه خیټه وهل خوړل او لاخو به خنډۍ ترور په قهر وه، چې کوچنیان څله د دوی د دړې تر مخې تېرېږي. ورو ورو کوچنیانو هغه په چلپاتېکه ادې یادوله خدای خبر چې دا نوم وربانديې چاایښی و، خو یوه ورځ زمور د کور دخاوندې وړوکی زوی په

منډه منډه راغی.

- موږې موږې اغه چلپاټکه ادې چنګه ده.

او بیا په خوښۍ ووت. زموږ د کور خاوندې خپل کار پرېښود. په خندا یې د دړې خواته منډه کړه ښایي دا به یې اوله غرمه وه، چې دې خندل کنه نورې غرمې به یې د تندي لیکې د شمار نه وې، له کوڅې نه شور ماشور پورته شو. ورسره د سړو او ښځو ګډ غږونه راتلل چې د یوې ښځې ښکنځلې او چتې اورېدل کېدې.

ما داسې وانګېرل چې هلته د باندې ضرور څه غټه خبره ده. ما هم د دړې خواته منډې کړې، موږ ټول کوڅه وال که ښځې وې، که سړي راوتلي وو، د کوڅې په منځ کې دوه نورې ښځې یو بل سره په خبرو لګیاوې له دوی نه یو دوه قدمه وړاندې دوه ځوانې ښځې ویښته په ویښته وې، شپږ اوه کوچنیانو چې د یوبل همزولې یې وو، هم په خبرو لګیا وو. یوه عجیبه نندارې وه. د ټولو ښځو او ماشومانو ورته خولې له خندا ډکې وې.

سړیانو د حیاله مخې ښځو ته د ښلولو لپاره نه نژدې کېدل خو کوچنیان یې سره ښلول. کوڅه وا لو کوچنیانو چیغې وهلې زوروره به یې په چکچکو ستایله، خو ډېرو یې د غټې زړې ښځې بریالیتوب غوښته. زما مخې ته دولس کلن هلکان ولاړ وو. یوه یې خپل ملګري ته په شاڅپړه ورکړه.

- چلپاټکه زوروره ده.

- نا اغه ولاکه زما زور لري، وګوره چې څومره ډبول وخوري.

- شرط ټرې؟

- هو شرط دی.

ما خو چې دوه زړو سترګو کې خندې، ترور چې کوچنیانو ورته چلپاټکه ویله، ونه پېژندله. زمور تر مخې دوو زړو سترګو یوبل سره له وینښتو نیولي وو او لوغړېدې. د دوی مخونه په خاورو لړلي وو. چې نه پکې سپین سترګیدل نه تور پوره یوه ګړۍ دا جګړه روانه وه، چې څه مهال راغلل دوی یې سره بېلې کړې، کله چې خبره شوم، نو هغه سترګه چې خندې، ترور ورته بلبلکه بلبلکه ویله او جګړه یې ورسره لرله زرجانه ابۍ وه. دوې ورځې په مازیګر هم د دوی جګړه وشوه. دا ځل بیا زړه له زړې سره او ځوانه له ځوانې سره وینښته په وینښته وه. نور نو د دوی جګړې هره ګړۍ همداسې روانې وې اوس نو زمور د کور خاوند سترګه ترورە او ترخه نه ګرځېده، تل به موسکۍ وه او هر مانښام به یې د جګړې کیسه خپل مېرە ته په مزه مزه کوله. خندې، ترور خو له ونې ډېره خندې وه، خو زرجانه ابۍ لوړه او سترګه وه. د خندې، ترور لور چاغه او لوړه سترګه وه. د زرجانې ابۍ اینګور خندې، نرۍ سترګه وه، خو دوی هېڅکله خپل د جګړې تن نه بدلاوه، تل به زړه له زړې سره او ځوانه به له ځوانې سره وینښته په وینښته وه. نارینه به یې چې ګهیځ وخته ووتل، نو ایله مانښام به راغلل د خندې، ترور زوم یوه وړه کراچۍ ګرځوله. د زرجانې ابۍ له زوی نه نه ومه خبره چې څه کار کوي، خو چې یوه ورځ مې ولید، نو ډېر خیرن و، د دوی نارینه به چې راغله، دوی به هم په هماغه مانښام کې یو ځل یو بل ته په غېږې ورتله. ماشومانو خو دم ګړۍ جګړه درلوده، هیڅ چانه ویل چې د دوی جګړه په څه کېږي. یوه ورځ چې په جګړې ایله دومره خبره شوم چې زرجانې ابۍ د خندې، ترور د کور تر مخې مستو والا نه مستې اخیستې وې. بس د خندې، ترور ورسره جګړه شوه. د هغې خوارکۍ مستې یې ورته تویې کړې په دې ورځ

جګړه تر مابنامه ونه درېده. خنډې ترور به زرجانې ابې ته د ډېر توروالی نه بلبلکه ویله. دوی یوبل ته هېڅ هم نه پرې ښودل. څه ښکنځل به یې چې په خوله راغله، نو ویل به یې. سهار، غرمه، مازیګر مابنام به درې څلور ځلې زمور کوڅه له وسله والونه ډکېده او تشېده. کله کله به یې د دوی نارینه ورته یوړه، خو دم ګرې ته به راستانه شول. اخر به راستانه شول. اخر به هغوی کې ګرم نه معلومېدل یوه ورځ مې له ګاونډې ښځې نه وپوښتل.

دوی نو ولې هر ساعت وینبته په وینبته دي؟

هغې وخندل.

د زرجانې ابې هسې د کور مخې ته نه ووپرې اینبي. زرجانې ابې هم ورته دا پاتې جګ کړ دلته خو بل چا داسې پاتې نه شو جګولی.

-نو هغه دي چې دښمني یې ده.

-هو، نو خود به یې دښمني وي چې غټ پټ پاتې یې ورته واچاوه. *

۱۳۷۸/۵/۲۸

*نام مجموعه: لاڅو تنې د ګریوانه پاتې دي.
ناشر: مجموعه داستانی نویسندګان مقیم کشور، سال: ۱۳۷۸ هـ.ش.

عابده وردګ

خپله خوښه

د ګڼیځ په خړه په ټول کلي کې اوازه خوره شوه، چې د ګلمیر اکالور (سپوږمۍ) مړه ده. ټول کلیوال حیران وو او وې به یې، وخ هغه خو بېګاه جوړه روغه وه، څه وربانديې وشول.

چې لمر خپل زرین شال د پسرلي په شبنمي چمن او ګلونو غوړاوه، د کلي ټول خلک نر او ښځې د ګلمیر کاله ته ور وران وو، چې د سپوږمۍ د مرګ حال معلوم کړي. چا به ویل خدای دې ورک مرضونه کړي، نن سبا دومره ډېر شوي، هغه ښایسته د ګل په شان روغه رمټه نجلۍ یې یو په یو ځوانیمرګه کړه، چا به څه ویل او چا څه.

د سپوږمۍ مړی د سرای په منځ کې پر کټ ایښی و، ګرد چاپېره یې نجونې او ښځې ورټولې وې او د سپوږمۍ سره یې وروستی دیدن کاوه. د سپوږمۍ سپین مخ ژړ شوی و، تور اوږده وېښتان یې په سپین کفنه کې لکه تور ماران ښکارېدل. سپوږمۍ خپل ښایست په مرګ هم له لاسه نه و ورکړی، لکه په خوب وېده ښکارېده. سپین سرې مور یې د کټ څنګ ته په چوپه خوله ناسته وه، سرته یې دواړه لاسونه کلک نیولي وو او نرې نرې زګیروی یې کاوه. نه یې چا ته کتل او نه یې له چا سره خبرې کولې، خپلو

غمونو په مخه کړې وه، چابه چې څه ورته وویل، دې به د لاس په اشاره ځواب ورکړ.

درنګ شپبه وروسته قبر تیار شو، د سپورمۍ جنازه د قبر پرلور واخیستل شوه، شور جوړ شو، ژړا شوه، خو مړی چاپه ژړانه نه دی ژوندی کړی ټول د سپورمۍ په مرګ خپه وو، خو مرجانه ترور تر ټولو ډېره پسې ځورېده، دوی دواړه کلیوالي وې، خو تر خویندو زیاتې یوبل ته ګرانې. د سپورمۍ مړی خاورو ته وسپارل شو، خلک ټول کورونو ته لاړل، مرجانه لا د سپورمۍ په کاله کې د سپورمۍ یادونه تازه کول په ټول کور کې لکه لمونې وګرځېده، هغه ورځې مو چې دلته خندل او خوږ مجلس مو کاوه، ټول یادونه یې یو پربل پسې تر نظر تېر کړل، په هغه بله ورځ چې بنګړیوالې راغلې وه، دواړو یو ځای بنګړي واچول. او دا دی هغه اوس مات مات پراته دي، وای دایې د اوبو ایستلو پر وخت مات کړي دي او د بنګړیو یوه یوه ټوټه یې په سلګیو سلګیو په خپل پلو کې ټولول، د خپلو لاسو بنګړي ېې هم ورسره مات کړل، ټول یې راټول کړل او له ځان سره یې وویل دا به د سپورمۍ پر قبر واچوم او ټینګ یې په پلو کې ونیول. ټول یادونه یې یوبل پسې په ذهن تېر کړل او بیا به یې په سلګو کې ووېل: وئ خورکۍ، ته څنګه یو په یو مړه شوې، زه څنګه بې وفاوم، چې په ځنکدن کې دې حاضره نه وم. ته چا راته مړه کړې، که کوم مرض رانه مړه کړې، بیا یې له ځانه سره وویل: وای زه څومره بې غوره یم، چې تر اوسه د سپورمۍ د مرګ نه ناخبره یم، چې ولې مړه شوې ده. او چته را پاڅېده، د سپورمۍ د مور په خوا کې کېناسته، ورته ویل: موریې! دا سپورمۍ ولې مړه شوه، بېګاه خو جوړه وه، له چینې نه یې اوبه وړې اوبیخي

بل خپل ښکارېده، تا به وېل ښاپېرۍ ده، ډیرډیر ساعت مې سترګې پکې خښې کړې وې، زړه مې نه غوښتل چې بل ځای وګورم او ورته ومې ویل، سپوږمۍ نن خو درځخه د اسمان سپوږمۍ شرمېږي، هغه راته موسکۍ شوه، په اخر کې یې له ټولو نه خدای پامانې وکړه او وې ویل، زه بیا نه راځم، ټولو ورته وخندل، چې ته چېرې ځې، چې بیا نه راځې او بیا یې دخپل کور په طرف ګرندي ګرندي ګامونه واخیستل.

د سپوږمۍ مور وویل. وی ء لورې، څه مې کوې چې غږوې مې.

– نه موري ما ته به وایې؛ چې د سپوږمۍ مور یې زما هم مور یې، ماته به سرتر پایه ټول حال وایې، زما او د سپوږمۍ هره خبره شریکه وه، هر کار مو شریک و او ته یې اوس ماته د مرګ حال نه وایې!

– زه وایم چې په کلي کې څوک خبر نه شي، بیا به لنډې اوږدې کوي، شل خبرې به نورې هم ورزیاتې کړي، د چا خولې سوځي.

– موري ته باور وکړه چې زما له خولې به دا خبره هیڅکله و نه وځي.

بیا د سپوږمۍ مور په سلګیو کې وویل: دا څه موده ریدي څو واره په مرکه راغې، چې سپوږمۍ خپل زوی ته وکړي، سپوږمۍ چې خبره شوه، ماته یې وویل، موري زه د ریدي له زوی سره واده نه کوم، پلار ته مې ووایه چې هغه ته کلک ځواب ورکړي. « ما ورته ویل، څه ورکه شه، نجونې مې نه لیدې، دومره سپین سترګې، چې په خپل واده کې خبرې وکړي دې بیا وویل: . چې ځواب ورکړئ. زه نوره خبره نه یم. بله ورځ ریدی بیا راغې، ما د سپوږمۍ پلار ته وویل چې د سپوږمۍ زړه نه دی چې د ریدي له زوی سره واده وکړي، هسې ځواب ورکړه، بیا به خوشې خپګان پکې پېښ شي، سپوږمۍ به وځوربېږي. پلار یې راته وویل: « چې یو وار یې ورکړم، دا بیا څه کولی شي،

ته په دغه خبرو پسې مه ګرځه، کومه نجلۍ تا لیدلې چې د پلار له کاله نه وتو ته زړه ښه کړي، بیا خو د ریدي ښه کورنۍ ده، زوی یې هم بدو کی نه دی، نور نو څه غواړې. ما هم ورسره امین کړه او د ریدي سره یې خبره خلاصه کړه، سپورمۍ چې راغله، ما ورته وویل، چې لږ ځوندي مونډي تیار کړه، چې سبا ته ریدي دوی راځي، ګل وړي او د ډوډۍ ترتیبات هم درسره ونیسه، زه هسې هم بلا وهلې یم، چې هیڅ مې هم په وس نه دي پوره، سپورمۍ یو ساعت په چورت کې کښاسته. بیا یې راته په ځواب کې وویل، ګوره ما درته نه وو ویلي چې زه د ریدي له زوی سره واده نه کوم، ولې د انسانانو پر ژوند باندې لوبې کوئ، ولې د خپلو اولادونو ژوند له بدمرغیو سره مخ کوئ، ما بیا خپله خبره تکرار کړه، پاڅېړه، ناوخته کیږي. دې بیا په سړه سینه ځواب راکړ، موږې ما هر څه وختي تیار کړي دي، نور یې څه و نه ویل او د خپل زړه غمونو ته یې د اوښکو په څو څاڅکیو ځواب ورکړ او پاڅیده. په دغه ماسخوتن زما د سر همېشنی خوږ لازیات شوی و، بیا مې ټینګه کړه، ګوره سپورمۍ د خپښې کار دی، چې هر شي ته دې پام وي، دې په سړه سینه ځواب را کړ، نه مور جانې هر څه مې تیار کړي دي، سبا به یې وګورې اوس خو دې هسې هم سر خوږېږي. ما د ماسخوتن لمونځ وکړ او کراره څملاستم، بیانو په ځان نه یم خبره .د شپې دوې بجې به وې، چې د سپورمۍ په ویشتلي زګېروي راوښه شوم، لاس او پښې یې غور ځول، ما وارخطا ورته وویل، سپورمۍ څه چل دی، ولې، څه درباندې وشول؟ هغې په ډېره سختۍ راته وویل: موږې زړه مې خوږېږي. لامو چې لاټین لګاوه، او بادبان مې اېشول او بېرته ورته راغلم، ساه یې ورکړې وه ،ض او د زهرو بوتل یې په خوا کې پروت و. *

*نام مجموعه: لاخو تنې دګریوانه پاتې دي.
ناشر: مجموعه داستانی نویسنده ګان مقیم کشور، سال: ۱۳۷۸ هـ.ش.

روشنا وردګ

برکتي ډوډۍ

دا څوومه هفته ده چې زمور د کلي تر نیمایي زیاتې مېرمنې نغلونه کوي بوره، چای، تورکان ببدربغه مصرفوي او د شپې ناوخته یې څراغونه لګولي وي. هغه څه یې چې د خپلو ماشومانو، سړیو او ناروغانو له خولو نه سپمولي، نن سبا یې په ډیر خلاص مټ او «ښه» نیت مصرفوي.

ګل اندامه چې زمور ګاونډۍ ده، خپل کور ته یې نژدې ډګاوند کورونو مېرمنې را بللې وې، تورلو مېرمنو په او داسه دعاګانې ویلې، په ډېر احتیاط وړاندې کوتې ته ننوتلې، ګل اندامې خپل کوچنی زوی د باندې ویوست او د لور په اوږه یې ورکړ او په ډېر ټینګار یې ورته وویل: پام چې هغه وړاندې کوتې ته یې را نه ولې، ګنې بیا به خدای مه کړه څه را پیښ شي.

ګل اندامه په ډېر تعظیم د صندوق کولپ ته ور نژدې شوه او نورې مېرمنې هم په بسم الله د هغه صندوق شاوخوا کیناستلې، تورلو تویې تویې کولې او دې هغه تور ټینګ چای، تک سپین نوی تورکا او یو ګېلاس بوره چې لامخکې یې تیار د صندوق له څنګه ایښې وو، یو ځل په ځیر تر نظر تېرکړل.

د ګل ندامه دوی ایله بیله لاس تر خولې رسیده. داسې ټبر او زیات یې نه لرل، چې ګاونډیانې کور ته ورو بولې. دا دوه کلونه کیږي چې خاوند یې

پسرلی په انجه پسې ځي، مشر زوی یې چې اوس د اتلسو کلونو په شاوخوا عمر لري، له یوه اوبل سره کالنۍ مزدوري کوي، دا خو لا څه کوې چې پلار یې په انجه پسې تللو، نو یې زوی انور ته وادە هم وکړ. وایي مورک په غار نه شو ننوتلی چې له اخره ورپسې وتاړه. خو پرده به یې دا وه چې خپله لور یې ورته بدل کړې وه، نورې یې هم څلور لورانې او دوه زامن وو، ډېر غریب و، همېشه به یې له گوړې، بورې او پتاسو پرته تریخ چاې څښنه، ډوډۍ به یې هم ډېر وخت له شړومبو سره تېروله، هغه هم د جوارو سوکړک و، چې د اولادونو به یې په غلیمنه ډوډۍ پسې ستر گې راوتلې.

گل اندامه په ونه برابره او نرۍ ښځه ده، په سرکې یې سپین وینښتان له لرې معلومېږي، هغه هم داسې ښکاري لکه بې وخته چې سپین شوي وي، گنې د داسې ډېر عمر هم نه ده. غریب خلک دي، هم د غه غربت دی چې بدرنگي راولي، خو یوه خبره ده چې که زمورې کلیوال هر څومره غریب او بی وزله دي، خو خدای شته چې بیا په مېلمه پالنه کې ډېر وتلي او تکړه خلک دي، له خپل ځان نه یې سپمولي په خپلو ماشومانو یې کسر کړي خو په مېلمه او مسا پر یې خوړلي دي، په کور کې یې که هر څو د مورک لکۍ نه سپرېږي، خو جومات او هوجرې ته یې له سیاله کمه نه لیږي.

زه هم وایم چې میلمه یې دې وخوري، مسا پر ېې دې وخوري خیر او خیرات ښه وي، خپل کړېدلي ماشومان خو لا پریږده، نو نه چې سپمولی سپو خوړلی، چې وې سپموي او اخر یې هم سپي وخوري.

زمورې خورالوی کلی دی چې ډېرې کورنۍ پکې غریبې او ډېرې مېرمنې یې لکه د نورو کلیو نالوستې دي، خو داسې هم نه ده چې ټولې

نالوستې دي، یو دوې ډاکټرانې، څلور پېنځه ښوونکې او لوستې هم شته، خو له بده مرغه ښوونځی نه شته، چې ښوونکي زده کوونکي وروزي. نارینه یې هم اکثره بې تعلیمه دي. یو خو غربت ډېر دی او بل دغه خلک داسې یو په بل پسې ژر ژر اولادونه راوړي چې په روزانه خوراک پسې یې نه شي رسېدای او که د یو چا پکې لږ ځند راشي نو بیا ټوټکو او تاویزنو ته مخه کړي. بس دا دودګرځېدلی، که څوک خپل اولاد ساتلی هم نه شي، ګېډه یې نهره له ښوونځي پاتې ناروغ خو د دوی یې پرې څه یوازې چې ډېر وي.

زمور د کلي تر ټولو غریب، بې ځمکې او خوارنجو کې امیر ګل مېرمن هم دوختونو وختونو د مېلمه او مساپر لپاره سپمولې بوره چای او تېل اخیستي او په صندوق کې یې یوه اینې دېګ ته اچوي.

د پرې ګل دوی کره ډېره ګڼه ګونه وه. ګل اندامه مینځلې جامې په تن په اوداسه په هغه وړاندې خونه کې چې تر ټولو تیاره ده، د لوی لرګین صندوق لوري ته په دعا ګانو ځي او راځي.

یوازې ګل انداه نه، زمور په دغه لوی کلي او نورو نژدې او لرې کلیوکې داسې ډېرې ښځې دي چې همدا لوبې یې شروع کړې دي.

ګل اندامه چې تل به یې څراغ یوازې د ډوډۍ خوړلو پر وخت بلاوه، خو اوس یې تر سهاره په هغه وړاندې تیاره کوټه کې لګوي. د ګل اندامې ماشومان په تیاره کې ایبله پېښې ګرځي، هغه منځوی زوی خو یې تېر ماسخوتن په تلې لږم چېچلی و او کور نجار یې تر مور را ورسیده.

په دومره لوی کلي کې یوازې زمور کور و چې دا لوبه پکې نه وه او یو

هم د هغو دوو ډاکټرانو او ښوونکیو کورونه وو، خو یوازې کیسې به یې زمور کره په خوند کېدې، هغه مېرمنې به چې زمور کره تلې راتلې هغوی ټولو به دا کیسې کولې او راتلونکی به یې خوشحاله څرګند اوه. کله کله به له ټوکو او مسخرو نه مور هم دغه کیسې کولې، خو نر هغه څوک و چې د پلار په مخ کې مې داسې خبرې کړې وای، پلار به مې چې هسې لږ څه تر غور شول، نو ډېر به په غوسه شو او ویل به یې چې په چتې خبرو ځان مه ستړي کوئ او مه قیمتي وخت خوشې تېروئ.

ګل اندامه چې کله دعاګانې او نفلونه پاې ته ورسول او ښځو هم ورسره د دعاګانو لاسونه پورته کړل، نو د صندوق کولپ یې خلاص کړ، په صندوق کې یې د دېګ سر لوخ کړ او هغه تور چای او بوره یې په دېګ کې ور واچول.

په دېګ کې بوره او چای همغاغه برکتي ډوډۍ وخښل چې دغه بوره او چای هرې دوې ورځې وروسته څښي. بیا چې د دغه ډوډۍ ګوچني کوچني بچي په دېګ کې تر چای او بورې اچولو وروسته را ښکاره شول نو هغه یې تر پې راوایستل او دغو ناستو ښځو ته یې هو یو ورکړ او په ډېر تېنګارېې وویل، ګوره چې هلکان او نارینه یې درنه نه وینې. چې تپ ټوپ به ړانده شي.

ناستو ښځو هم هغه یو یو خپلو کورونو او بکسونو ته د دې لپاره یوړل چې سپمولې بوره او چای پرې وخښي. هر چا ته به یې چې بچي وایستل نو هغوی به نورو ښځو ته ورکول چې نه به یې درلودل. او د دغې برکتي ډوډۍ مور به یې خپل ځان ته پرېښودله، خو که کومې مېرمنې ته به یې بچي ونه ایستل، نو ویل به یې چې د هغې مېرمن په ایمان کې خلل دی او ګناهکاره به بلل کېده، اخر د دغې برکتي ډوډۍ نسل دومره زیات شو، چې چانور بوره او

چا یونه نه شوای پسې رسولای او ډنډورې خو یې د هر چا په خوله وې، چې په پلاني ځای کې یې یوه کوتې اوړه ایستلې او په پلاني ځای کې یې امریکا یې ډالر.

یوه ورځ چې ډېرې ښځې زمور کره راغلې وې په همدغه موضوع خبرې کېدلې. د مور مې حوصله ورته ختمه شوه او په قهرجنه لهجه یې وویل د خدای لپاره توبه وباسئ، ګناهکارې شوئ. خو د سرکو مور چې اوس پخه ښځه وه، مخ پرې .راواړوه او ویې ویل، خورې توبه ته وباسه، دا خوشې خبرې نه دي، دا یې یې فاطمې د غریبو ښځو لپاره رالېږلي، وئ؛ خورې ته نه یې خبره هغه په کابل کې یوه سړي خپله مېرمن وژلې، بیا یې په تناره کې سوزولې او بیا یې هغه اېرې په سېند کې اچولې وې، له هغو ایرونه یې په سیند کې ډوډۍ جوړه شوه. یوه ورځ چې یوه غریبه ښځه په هغه لار تېرېده. وړې ماشومان یې ورسره وو، نو دغې ډوډۍ ورته وېلې وو چې ما در وکاږه او داسې مې په دېګ کې کېږده، بوره او چای راکوه، نو زه به تا ته ډېره دنیاه در کړم او نورو ښځو ته مې هم ورکړه، خو پام چې نارینه مې ونه ګوري، ګنې ټول نارینه به در ته ړانده شي، نه دا خو دروغ نه ده، دا د یې یې فاطمې لور ېینه ده.

دا خو په اصل کې چا له ښاره د اوبو سپنج زمور کلي ته راوړی او کومې ښځې ته یې ورکړی و، چې دا برکتي ډوډۍ پېسې زېږوي، د پیسو خبره نه وه چې زمور ټول کلي او ان چې ټوله سیمه یې په سر واخیسته او څو ورځې وروسته چې میرمنو نور دومره چای او بوره نه شوای پسې رسولای، نو ېې له نېم نېم ګز ټوکرانو سره په سیند لاهو کول پیل کړل او یوې یوې خو به په دې امید چې ګوندې ډالر به راوباسي، نوره هم ساتله.

که زمور د کلیو هغه ښوونکیو او ډاکترانو به هر څومره ورته وویل چې دا دروغ دي، نو چا ته یې وایې، دوی ماغزه پرې او به کول خو څه یې تري سود بود نه کړل او کله چې یو ځل یو ناوړه شی دود شي، بیا نو لکه ناسور خپلې ریښې ټینګې کړي او بیا یې څوک په دومره اسانه مخه هم نه شي نیولای او د خلکو د بورې او چای ستې یې وایسته. *

*نام مجموعه: لاڅو تنې د ګریوانه پاتې دي.
ناشر: مجموعه داستانی نویسندګان مقیم کشور، سال: ۱۳۷۸ هـ.ش.

اسد الله عضنفر

د مور غم

د وی تیره شپه سره ملګري شول او نن یې کړی ورځ د بغلان په کلیو - کروندو کې لار وهلې ده چې هر کلي ته ورسېږي، معلم ته پخواني وختونه وریاد کړي، د ټولنو او ټبنکونو په توتو لاړې تو کړي، کله نا کله یې رنګ شوي کورونه د تندي ګونځې ورزیاتې کړې او په سترګو یې توره شپه شي، مګر د نسیم حال بل دی، چورتونو پسې اخیستی او شاوخوا ته یې هډو پام هم نه دی.

درې - درې نیم ساعته د مخه بره ګی طیاره راغله، را ټیټه شوه، ودریده او د مرمیو باران یې شروع کړ، معلم په شاړو کروندو کې چې دوه دوه نیم لویشتې وانښه په کې ولاړ وو، پریوت او پر ده یې چیغه کړه چې ټوپک پټ که، سر پټ که، سترګې پټې که، ساعت پټ که، نوکان پټ که... مګر هغه لکه بت ولاړ و، خپل نوکان یې ژوول او د چورتونو له خوبه را وینې نه شو. معلم لا پروت پروت ناري وهلې چې الوتکه په بل لور لاړه او دوی له خطره بچ شول.

معلم د نسیم دې حالت ته ډیر فکر وړی دی، نه پوهیږي چې دده روحیات څنګه پیاوړي کړي. هغه ته د تیرو جنګونو کیسې تیروي او دا ورښودل غواړي چې ته خوا مه بدوه، ستا لاس د وطن تر سرجار شوی دی او

ستا وینښته او بانه د وطن په مینه کې لوګي شول، ته د ډیر وبار او عزت وړ یې، نن د ټولو زلمو مینډې د زړه وینې څښې خو ستا مور بیا هم بختوره ده چې زوی یې په سمه لار روان دی، له تا څخه به لوی خدای خوشحاله وي او ته د هغه مظلومو بندګانو لوی خادم یې... خو نسیم د معلم خبرو ته غوږ نه ږدي. د هغه په زړه کې څه بل شانې اور بل دی. د وبار او افتخار خبرې ورته مکررې ایسي او پر ذهن یې دم پر دم هغه پرونۍ پېښه خوریږي. له ځانه سره وایي: «عجیبه ده، زه هیڅوا ونه پیژندم، هغه ما له ډیره لرې څخه و پیژندله، خو دې را ته په خپل لاس ډوډۍ را وړه، په سر یې ښکل کړم او په چوترہ کې یې د یو بیګانه په څیر را څخه د خپل زوی پوښتنه وکړه. نه پوهیږم چې زه ډیر زیات بدل شوی یم او که ددې حال خراب دی؟ شاید دا دواړه دلیله سم وي. دا نو څنګه ممکنه ده چې مور دې خپل زوی ونه پیژني.

د خوب کلمه یې په ژبه وویله او بیا یې په شونډو کې وموسل. معلم دا فکر وکړ چې زما په خبرو پورې یې وخندل، نو په اوږه یې لاس ورکېښود او په پوریدلي غږ یې ورته وویل:

زه به اوس د خپلې مور کیسه درته وکړم. ته باور وکړه چې زه هم ډیر ځپل شوی یم. ډیر کړیدلی یم، خو څه وکړم، دا به د خدای رضا وي او تقدیر نه پر بله کړي.

د معلم پیاوړي لاسونه د نسیم تر غاړه را حلقه شول او چې ځوان د معلم د غږ پورېدا د خپل زړه دربا ته ورته احساس کړه نو بیا یې لیمې د معلم خواته وروارولې.

معلم ورته وویل:

یاره زمور سیمه ډیره اباده ده، ډیرې شنې ونې لري او ښې شولې په کې کیږي، شاوخوا یې زرغونې کروندې دي او د کندوز سېند په کې لکه د سپینو زرو بهیږي. زما ورور یې د همدې سین پر غاړه لیدلی و. روسان له لرې کلیو په ماتې را ستنیدل. غصه وو. خدایزده چې ولې یې دده د وژلو اراده وکړه. هغه د هیلیو ښکار کاوه. دوی دا ګومان درلود چې دی د تیښتې لار نه لري، نو دوی درې ټانکه یې تري را وڅرخول، د هغوی زړه و چې ژوندی یې ونیسي، توپک ځنې واخلي او عذاب کشه یې کړي، د همدې مقصد له پاره یې ټانکونه ودرول او مرمۍ یې پرې ونه ورولې، خو دوی ونه پوهیدل، هغه ډیر ښه لامبو زن و. سمدستي یې سین ته توپ کړو او چې ټینکونه د سین غاړې ته را رسیدل، ده په ډوبکۍ ځان د پله لاندې برخې ته ورساوه. که څه هم په ښۍ پښه یې یوه ګولۍ لګیدلې وه، خو هډوکي ته یې تاوان نه ورسیدلی. روسانو په دریاب ډیرې مرمۍ وورولې، مګر له ټینکونو را بهر نه شول. دی هورې تر ستنو لاندې خدای وساته.

کله چې ټینکونو د ښار خواته مخه کړې وه، زما ورور هم کور ته روان شوی و، په کومه لاره چې دی راغلی و د واورو په مینځ کې د پریوتلو، لویدلو او پښې ښویدلو ډیرې نخښې وې او دا یې ښودله چې خوارکی په زحمت سره کور ته رسیدلی و.

په همدې وخت کې د معلم غږ څه نور هم ژړ غونی شو. خپل لاس یې د نسیم له اوږې را پورته کړ او له شیبې نیمې سکوت څخه وروسته یې وویل:

زلمیه! زه په هغو شپو کې په کور نه وم او دا هر څه مې اډې په ستر گو لیدلي، هغې مور ته دا نکل داسې کاوه چې له سپېدې چاوده وروسته مو د ټینکونو غږ تر غوږ شو، بخ ډیر و او واوره پرته وه. د تیښتې لوری نه و او د الله په رضا صبر شو، خو سلطان محمد را ته ووېل: اډې! زما زړه نه صبر یږي پرون یې هم د دریاب پر غاړه کابو وژلی وم، که کور ته را ننوتل او زه یې زخمي ولیدم، نو بیا مې نه پریږدي، ښه به دا وي چې په دا مخامخ غونډیو کې پټ شم. ما ورسره و منله، خو پل یې سم نه شو اخیستلی، نو میرزاګي ته مې وویل چې هله زویه! ترمټ یې و نیسه او ژر یې پر غونډې واړوه.

معلم بیا پټه خوله شو. څه نور څه لکه چې وریاد شول او داسې یې خبرې شروع کړې:

مور مې ویل، مخکې تر دې چې دوی په لوړو کې پریوځي، ټینکونه را ورسیدل او پر دوی یې ګولۍ وورولې. زه فکر کوم چې مور به مې محاربوي ماشینونه لیدلي وي، ځکه وېل به یې چې ډیر ګرندي او واړه ټانکونه وو. چې قوه را لنډه شوه، میرزاګي سلطان محمد پرېښود، منډې یې کړې او د تیرو شاته پټ شو سلطان محمد شاته پاته شو، روسانو وویشت، میرزاګي چې دا حال ولید، نو د ورور خواته یې را منډې کړې، خو په واورو کې پریوت. مور به مې ویل چې ما د دوی دواړو غبرګه کړیږه واوریده چې نارې یې کړې:

«ا ... د ... ی!!!»

خو ځوانه! زه یقین لرم چې مور مې هسې تصور کاوه هغوی یې دې ته نه وو پرې اینبی چې چیغې وکړي. مور مې د ډزو سره سم بې هوشه شوې وه او د کلي د خلکو تر را رسیدو او د هغو تر ښخولو پورې بې حاله وه. هغې چې به

ددې پیښې په باب څه ویل نو خپل تصورات به یې هم ورګډول. دا نه وه ملامته، د دې منځوی زوی د شپاړسو کلونو و او کشری یې یوولس کلن و.

ځوانه! لوی غمونه نه هیریږي، خو د مور غم مې دومره لوی و چې تول غمونه به یې را باندې هیر کړل.

د معلم خبرې نسیم ورغوڅې کړې، ویې ویل: «معلم صاحب! زه هم مور ته خوابدی یم، دې وت وت پوښتنه را څخه کوله او په دې نه پوهیده چې له نسیمه د نسیم پوښتنه کوي. دې په هغه یوه ساعت کې څو څو ځله پر تندي ښکل کړم چې ما ګواکې د نسیم حال ورته را وړی و. ستا خو به ممکن پام و چې را ته ویل یې: نسیم ته به حال ورکړې چې یو ځل راشي، درې میاشتې وشوې چې نه مې دی لیدلی. دا څومه ورځ ده چې بد بد خوبونه وینم. ورته وایې به چې ضرور راشه. مور دې ډېر یادوي. ستا خو به پام و چې ما ورته وویل: زه اوس له کندزه راغلی یم او بیرته جبهې ته نه ستنیږم، مګر دې وژړل او په ډیر عذر یې وویل چې هر رنګه وي حال ورکړه، زما اندیښنه ده او ورته وایې به چې پلار دې ناجوړ دی، تبې یې کیږي.

معلم صاحب! زه څه ورته ووایم، له زړه مې یو خدای خبر و چې دې مې د پلار د ناروغۍ وویل. پلار مې ناجوړ دی خو زه یې پوښتنه نه شم کولای! تر ډیره وخته مې په فکر کې جنګ و یو ځل به مې ویل چې را ځه پلار وګوره خو بیا به پشیمانه شوم چې هسې نه ومې پیژني او مور مې له غمه لیونۍ شي اخر مې له ځان سره فیصله وکړه چې را ځه نسیمه، د مور دپاره پلار مه وبنه.

معلم ورته وویل:

ښه دې وکړل، زما ښه پام و، یو انسان باید... معلم صاحب لا د لوی انسان کړه وړه جوړول چې نسیم بې حوصلې شو او د هغه د خبرو په مینځکې یې ورته وویل:

ښه، هغه د مور کیسه دې په نیمایي کې پاته شوه. معلم وویل:

زما مور مړه شوه. زما مور د زامنو له مرګ نه درې میاشتې وروسته پور پرې کړ. کاشکې یې د زامنو غم نه وای لیدلی. په هغه ساړه ژمي به ټول ویده وو، دا به را ویښه شوه، پټه به ووته او د زامنو د قبرونو خواته به کښیناسته. په عذر، زاري به مو راوسته، ورته و به مو ویل چې ساړه دي سکاروي به دې ووهي، ډیر بد بخ دی، توبه وباسه او له خدایه وویریږه. له دې پیښې وروسته د دې حالت ډیر دردوونکی و. کله نا کله به یې په زوټه - زوټه هم ژړل، مګر اکثره به په حیرت کې ډوبه وه. یو دیوال یا ګیلم باندې به یې یو - نیم داغ ته کتل او تر ډېره وخته به ورته ځیره وه. پسرلی لاسم نه وراغلی چې بیاد روسانو قوه راغله. د دې چې د ټانکونو غږ تر غوږ شو نو پښې او لاسونه یې، وپوړېدل. څو دقیقې ډیره زیاته وپوړېده. ګومان کوم چې د وینې فشار یې بیخي لوړ شو. داسې وپوړېده چې له تم کیدو ووته او بیا د تل له پاره ارامه شوه. د معلم غږ و پوړیده. ستونی یې ډک شو. لاړې یې تیرې کړې، وتوخیده او نور یې څه ونه ویل. *

١٣٦٣/ پېښور - مرشداباد

---

*نام مجموعه: ساړه بادونه.

ناشر: د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه، سال: ١٣٧١ هـ.ش.

وحیده ورد گ

د ابۍ لیلا او دنیا

ابۍ چې به په سړه هوا او لویشت لویشت واورو کې زمور پرانکړ رابنکاره شوه، له هر طرف نه به د ابۍ راغله، ابۍ راغله چیغې شوې مور به یو له بل نه مخکې کېدو چې له ابۍ سره ژر ستړي مشي وکړو، بیا به مو د تاوخانې په تبې کینوله، مشرانو چې به د روغ جوړ پوښتنه خلاصه کړه مور به ورته ګډ شوو چې نکل راته وکړه هغې به ویل نکل سړی له ماخوستنه کوي.

ابۍ به همېشه له مور نه پټه تله، ځکه چې مور به شپې ته پاتې کوله دومره زاري به مو ورته وکړې چې آخر به ستړي شوو. ابۍ به مو راو ګرځوله. خو دې به ویل مال به یې مړ شي زه د شپې ورباندې ګرځم که وزه، مېږه یا وری د مرګ وي حلالوو یې.

ابۍ اوس له شپېتو اوښتې وه، خو وښته یې تک تور وو، داسې خور مجلس کوي چې سړی تړې پاڅیدی نه شي، ساده او سپینې خبرې کوي، ځانګړی ستایل لري او کله کله خو داسې له خندا شنه شي چې سړی یې په مرګ ودار شي. د ابۍ یکی یو زوی جمعه ګل او یوه لور وه چې ښاپیرۍ نومیده. جمعه ګل لاکوچنی و چې پلار یې مړ شو، خپل کور - پتې یې نه درلود.

د خلکو ځمکه به یې په دهقانۍ نیوله او په هغو یې ګوزاره کوله، مور

به د ابې کیسې ډیرې په خوند اوریدې، دې به له مذهبي کیسو نه نیولې د دیوانو او ښاپیریانو تر کیسو پورې را ته کولې، خو د خپل ژوند رښتینې کیسې او خاطرې یې تر ټولو په زړه پورې وې، جمعه گل ته د واده د لټولو او کوژدې کیسه تاسې هم د ابې له خولې واورئ:

جمعه گل چې زلمی شو، نو د کلي خلکو به ویل چې زوی ته دې نوروا ده وکړه ما ویل واده پیسې غواړي زه به جمعه گل ته په څه شي واده وکړم دوی به ویل لور دې ورته بدل کړه.

د کلیوالو خبرو ځورولم، نو زه هم پټه پټه په نیور پسې گرځیدم، یوه ورځ په کلي کې د چا واده و، دلته مې دوې نجونې ولیدې، چې له بل کلي نه راغلې وې او پوښتنه مې ورکړه، خو یوه یې ورکړې وه او بلې یې دبخمل سور کمیس اغوستی و او ډېره ښه راته ښکاره شوه، واده خلاص شو، خلک یې خپلو کورو ته ولاړل، ما چورتونه وهل چې څنگه وکړم.

ما ویل که نیور کوم، د علي گل خور به ورته کوم، یو څو ورځې وروسته د کلي سپین ږیري ورغلل، له لږ کش او گیر وروسته یې هو وکړه. ما مې لور د علي گل ورور ته په بدلانه ورکړه، کلیوال دې خیر یوسي ښه ساز یې راته جوړ کړی و. څو ورځې وروسته مې غونډاري پخې کړې او یو ټیکری چې ان زما د ناویتوب و او فقط څوو رځې مې په سر کړی و، تیار کړ چې د نیور کره یې یوسم.

سخته خبره د بوټونو وه، چې زما فقط یوه جوړه زاړه شلیدلي، پلاستیکي بوټونه وو. هغه مې هم داسې پیوند کړي وو چې خپل اصلي رنگ یې له لاسه ورکړی و. له ډېر فکر وروسته له یوې نژدې گاونډۍ کره ورغلم

بوټونه مې تري وغوښتل ښځې خپل بوټونه راواخیستل چې په هغې کې هم شیمه نه وه پاتې، ډېر پرېښو شوي وو.

خیر بیا هم د څرمنې وو زما له بوټونو نه یو په سله ښه وو بوټونه مې امانت تري راواخیستل، خو اوس څوک نه وو چې راسره لاړ شي. یو زما زوی و چې د هغه پښه بنده وه او د یوې بلې همسایه ښځې زوی مې دلارې ملګری کړ او روان شوو، په نیمه لار کې مې ښې بوټ وشکېد، نیم پرې و نیم په پورې سرښین و. چې قدم به مې اخیسته هغه به په پونده لګېده او ټکار به یې کاوه خپه هم ډیره وم. پردي بوټونه دي په دې کې مې د نړور مشر ورور علي ګل چې لوند خیشت خوی په کلچ کې اچولی او په خره یې بارکړی و په مخه راغی چې د پتې نه کور ته تلو ځان مې ور وپیژانده، دی تر مخ او مور ورپسې؛ بوټونه مې همداسې ټکیږي. علي ګل وایي دا تلي تري وشکوه زه به دې ترکوره پر خره سپره بوځم ما ورته وویل: نه تلي شکوم او نه په خره سپریږم، په خپلو پښو ځم.

علي ګل د تلي له ټکاري نه تنګ شو؛ زوی یې د خرې نه کوز کړ په خپل ځادر کې یې غوټه کړ او راته کړل یې چې په دې خره سپره شه. زه هم له مجبوریت په خره سپره شوم ښنبه مې چې کار ته (ښکته) راوځړوله او تر څو مې کلچ ته اچوله علي ګل مې د بوټ تلی وشکاوه او په کلچ کې یې واچاوه، د لږ وروسته کور ته ورسیدو. کلچ یې له خرې را کوز کړ په کشکن کې یې کینبود. وړې وو، د خونې ور خلاص و، زه داسې ځای کیناستم چې دا کلچ وویښم، غونډاری خو هسې هم د دوی خوراک دی، ما ویل کوم وړوکی دا تلی تري وانخلي. د علي ګل ښځه یې له پلار کره تللې وه په کور کې د علي ګل یو څو ماشومان وو او بله همدا زما نړور وه چې له ما نه پټیده.

ما چې کلچ ته ډیر کتل نو علي ګل پاڅېده. غونډاري یې د کلچ نه راواخیستې او زما ترڅنګ یې کیښودې په دې کې د وره ټک ټک شو علي ګل ورغی چې راغی، نو ما ته یې وویل مېلمه دی، ته به هغه بلې خونې ته ولاړه شې. ما ویل زه نه ځم ده بیا وویل ته هلته لاړه شه نېږور دې هم هلته ده، دلته میلمه کینوو، خو زما تلی له زړه نه ووت؛ نه مې ده ته ویل چې هغه تلی را کړه او نه ما راواخیست هغه کلچ ته مې کتل چې د بوټ تلی پکې پروت دی، علي ګل بیاولاړ په کلچ کې یې لاس وواهه تلی مې ترې را وویست هلته بکسونه اینبی وو. د هغو شاته یې واچاوه او ما ته یې وویل اوس لاړه شه نو زما هم زړه ښه شو او بلې خونې ته لاړم.

خو بیا هم لږ لږ ډاریدم چې ورک نه شې خیر دا شپه مې وکړه نېږور مې ولیده ټکری مې چې ور وړی و هغه مې ورکړ، په زړه کې مې اندیښنه وه. چې تلی به اوس وي که نه ما ویل نور نو ځم، خو دوی ډېر راته ټینګ شول چې یوه بله شپه هم وکړه.

ما ونه منله، علي ګل بوټونه، تلي، څټک او کوکې راوړل بوټ یې ښه کلک را ته جوړ کړ او له هغه ووړکي سره چې راغلې وم بیرته لاړم. ښځې ته مې چې بوټونه ورښکاره کړل سره او شنه کیده چې ما جوړبوټونه درکړي وو. ښه سرېښ وو او تا توري کوکې پرې وهلې دي ما ته به مې بوټونه همغسې راکوې چې درکړي مې وو. ما ویل اوس ایله ښه کلک شوي، خو هغې نه منله چې ما ته هماغه نوي بوټونه راکړه.

زوی مې یو څو ورځې مزدوري کړې وه مجبوره شوم په هغو روپیو مې همداسې بوټونه ورته واخیستل. زوی مې چې خبر شو داسې ډونګیده چې تا

ته چاوې چې بوټونه تري وغواړه همدا خپل زاړه به دې په پښو کړي وو. ما ویل اول وار مې و چې د نړور کړه مې تلم بدکار و هغې به ویل چې هیڅ نه لرې خو ده نه منله. کش ګیر مو و. زوی مې ویل زه یې بیرته خرڅوم ما ته خپلې پیسې را کړه ملامت هم نه و په کور کې ګرد اوړه نه وو زوی مې ما ته هماغسې ډونګبده چې ښځه په چټکۍ راغله. راته کړل یې بوټونه مې ژر راکړه. ما هم نوي بوټونه ورکړل. ما ویل هغه نور بوټونه خو راولیږه هغه زما کیږي. ښځې ویل په خدای که یې را څخه واخلې، زما د واده د ورځې بوټونه دې راته وشکول غږیږي هم لاته؛ ابی په ساړه او سیلي وویل بچیانو هم لیلا لاړه هم دنیا. *

*نام مجموعه: لاڅو تنې د ګریوانه پاتې دي.
ناشر: مجموعه داستانی نویسنده ګان مقیم کشور، سال: ۱۳۷۸ هـ.ش.

حفظ الله تراب

سلګۍ په لوېدیځ کې

هره ورځ به یې د کور وره ته سترګې څلور کړې وې. د شپې تر ناوخته به یې خپلو کې ډیره خوشالونکې مرکه کوله. له یوې میاشتې راهیسې د یوه زیري په تمه و. له ډیر انتظاره پرې هره شېبه د اوړي د روژې د ورځې په څیر اوږده تېریده. ټول کور زیري ته غوږ غوږ وو چې یو مانبام ورته لیک راورسید. د کور لوی او واړه تري چاپیره کیناستل او په پوره بې صبرۍ چې یې لیک پرانیست نو پکې لیکل شوي وو.

ګرانه پلاره!

د خپلې سپېرې لور سلامونه ومنئ. له هغې ورځې چې راغلې یم، نو د دوزخ په لمبو کې سوځم. کاشکې په وړوکوالي کې مړه وی چې اوس مې له غمه خلاصه وی. زه نوره پخپل ژوند ډیره تنګه یم. زه له یوه داسې بې ننګه سره یم چې تر اوسه لا د غیرت نوم نه پیژني. هره ورځ مې زړه وي چې خپل ځان پخپله مړه کړم خو له مخکې مې دا کار ځکه ونه کړ چې هسې نه تاسو مې له کېسې خبر نه شئ.

خوږې موږې! زه بې له اوښکو تویولو بل څه نه لرم. دا دی تا ته مې هم

په لیک تویې کړې موړې! خبرې مې په زړه وې خو را نه هیرې شوې، ما ته ډیر ژر ځواب را ولیږئ، چې څه وکړم؟

ستاسې خواره سلګی.

د لیک لوستل نه وسم د قیامت غږ و. د کور ټول غړي داسې شول لکه چت چې پرې راولیدلی وي. د ټولو مخونو نه رنګونه والوتل او ویرونکې چوپتیا پرټول کور خوره شوه. ګرم نه وو. په هغوی داسې کانه وشوه چې اټکل یې نه کیده. له ډېره وخته هغه د چا خبره چې د پښو په څوکو ناست وو. خدا ښزده چې د تګ لپاره یې په پتلونونو، نیکټایي ګانو او بهر ته د تګ د نورو ضروري توکو په رانیولو څومره روپۍ لګولې وې!! د هغوی تګ دومره باوري ۹ و چې خپلوانو او دوستانو به یې ورته ډېرې درنې درنې میلمستیاوې کولې. له جرمني سره له ډېرې مینې به د شپې ټولو پتلونونه واغوستل. او په کوټه کې به خارجیانو ته ورته حرکتونه او ماته ګوډه انګلیسي له هره کونجه پیل شوه. د انتظار په دغه موده کې به داسې شپه نه وه چې هغوی به د انګریزانو د اکتونو تمرین نه کاوه، خو لېک یې په ټولو امیدونو خاورې واړولې او حیران په دې وو چې سلګی ته کومه داسې پښښه ورپښښه شوې چې دوی یې په ویر اخته کړل!؟ هغوی دې ته لاس تر زنې او حیران وو چې سلګی ولې د خپلې غمیزې څرنګوالی په لیک کې نه دی لیکلی؟! شنه ساعت وروسته یې له ډېرې اندیښنې خپل سر د یوال ته ولګاوه او لایې له غمه سترګې پوره نه وې پټې کړې چې صیاد او سلګی یې سترګو ته ودریدل. هغه صیاد چې دري میاشتې مخکې یې له سلګي سره په یوه هوټل کې داسې شاندار واده وکړ چې ټول بلوونکي او په ځانګړې توګه ورته جونې هکې پکې وې. صیاد یو شیک

کوټلی د څلویښت کلونو ګردی ځوان و چې په جرمني کې اوسیده. هغه یوازې او یوازې د دی لپاره راغلی و چې دلته واده و کړي. هغه چې به کله کوم کور ته لاړ نو داسې روپۍ به یې بادولې چې ټول به ورته ګوته په غاښ شوو. د هغه له موخې چې کله خلک خبر شول نو ډیرو هڅه کوله چې خوله ورسره په یوه نه یوه بانه د خپلوی لپاره ګډه کړي، خو صیاد هم هغه د حضرت باز خبره د هانکانګ نشپاتی خورلې وې. هغه د یوې داسې جنۍ په لټه کې و چې د حورې غوندې ښکلې او د ګلاب د لښتې په څېر تانده وي. په دغو غوښتنو پوره پرته له سلګۍ بله جنۍ نه شوه کښدای هغه چې کله د سلګۍ له ښکلا او نوې ځوانۍ خبر شو نو د یوه دوست په خوله یې له مامور سلیم نه د ځان لپاره سلګۍ وغوښته د هغه په لور ډېرې درنې درنې مرکې کښدې، خو د خپلې لور سره د ډېرې مینې له کبله یې د ورکړې زړه نه پرې کیده او کله چې د صیاد استازی هم راغی نو د مامور صیب زړه و، چې ځواب یې کړي. خو چې میرمن یې خبره شوه نو په هغه یې سم قیامت را کښته کړ او ورته یې وویل: خلک یې په اسمان غواړي او موږ ته خدای په ځمکه را کړ او اوریدلي مې دي چې څوک لور ورکړي نو ټوله خسر ګنۍ هم خارج ته وړي. سړیه! ګوره تیر تړې نه شې. هغې چې کله خبرې تمامې کړې، نو مامور صیب ورته په سړه سینه وویل: ښځې یو خو سړی ډیر پوخ او متکور دی. زموږ یوه لور ده تر اوسه لا اوولس کلنه نه ده او بله دا چې زه یې نه له اصله خبر یم او نه له نسبه؟! د هغې مخ ددې خبرو په په اوریدو تک سور شو او په ډېره غوسه یې په یوه ساه وویل نارینه چا زوړ کړی. د شپیته کلنۍ پورې خو هر سړی ځوان وي او پاتې شوه د متکور خبره! اول ځل هر نابلده سړی بنې آدم ته متکور ښکاري، همداسې پردي خپلیږي او که ستا

زړه وي چې خپلوانو ته يې ورکړو نو نن دې هماغه خپل دې چې په درد دې دوا شي. خپلوان دې په ټوپ والوځي. او دا هم واوره دې وخت کې هماغه څوک سړی دی چې خارج کې اوسي، د خپلو خبرو په پای کې يې زياته کړه د سلګۍ پلاره! هغه به کوم وخت وي چې دواړه د جرمني په پار کونو کې هر مابنام چکر ووهو ؟! ګوره سړيه، له سره به زلمی شې. د مور خبرې يې د اولادونو هم ډېرې خوښې شوې او يوه وويل: زه به مې د صياد لالا سره هلته بيا پينګ پانګ کوم. بل را ټوپ کړ او ويې ويل: زه به ورسره په سويمينګ پول کې لامبم. د يارلس کلن زوی يې د کوټې په منځ کې په فلمي انداز کوږ وورږ ودريد او ويې ويل: ډېډ! زه به د صياد لالا سره ټيتانيک فلم کې کار کوم. د ده په خبرو ټولو وخندل او د ډيډ توری د ټولو دومره خوښ شو چې له هغې ورځې وروسته به بې له سلګۍ نورو ټولو مورو پلارته مم او ډيډ وايه. سره له دې چې د مامور سليم دې خپلوی ته ډير زړه نه کيده، خو چې د ميرمنې او اولادونو له خارج سره بې کچه مينه ورښکاره شوه، نو له ناکامه يې د انکار وسله کينبوده او د صياد استازي ته يې هو وکړه. او دا رنګه سلګۍ يې صياد ته کوژده کړه. هغه په مياشت کې دننه دننه ښه په درز و دروزکې واده هم وکړ تر واده وروسته به هغه هر وخت ټولو ته جرمني ته د وړلو ډير ډاډ ورکاوه. صياد په دغه يوه مياشت کې ټولو ته له حده ډير ګران شو. خو سلګۍ به غمجنه معلوميده. د تګ په ورځ صياد يو ځل بيا ډېر ژر جرمني ته د هغوی د رابللو وعده وکړه. تر هوايي ډګره چا بکس چا خورجين او ځينو ورسره نورې غوټې په شا کړې وې او په داسې حال کې چې د ټولو ستر ګې له اوښکو ډکې وې له سلګۍ او صياد سره يې خدای پامانې وکړه.

تر دې وروسته یې چې څنګه د سلګۍ د لیک په برخه کې فکر کاوه، نو میرمنې یې د هغه د خیالونو هار دانه وانه کړ او په لوړ غږ یې ورته وویل: څنګه غلی یې؟ ژر کوه د لور غم مې وخوره، زه خو به مړه شم. په دې خبرو مامور سلیم د لیونې په څیر په درانه وجود له ځایه توپ کړ او په ورو یې ورته وویل: خدای به خیر کړي. خو هسې یوه خبره درته کوم چې له دې غمه به مو څه غوښتل، یوه لور مو وه، خدای پوهیږي چې ستاسې په خارج مېنو له لاسه پرې اوس څه تیریږي؟ نږدې ځای نه دی چې پوښتنه یې وکړم. د هغه لانورې خبرې په خوله کې وې چې میرمن یې په ژړا شوه. د شپې یې سلګۍ ته په لیک کې د ټول کور ژوړې اندیښنې ولیکلې او د ورپېښې شوې ستونزې په هکله یې ترې ډیر ژر او پوره معلومات وغوښتل. د سلګۍ د لیک په انتظار به هره ورځ د واورې غوندې ویلې کیدل، تر ډیرو ورځو لکه عصبي ناروغان له ځان نه وو خبر. په شلمه ورځ ورته د سلګۍ لیک راورسید او چې یې پرانیست نو پکې لیکل شوي وو.

ستاسو لیک راورسید په تېر لیک کې مې له ډیره غمه اصلي خبره هیره شوې وه. زه چې کله دلته راوستل شوم نو دوه ورځې وروسته هغه بې ناموسه صیاد زه یو شپیته کلن بوډا ته وسپارم او را ته یې وویل چې ستا حقیقي مېړه دا دی. ما دواړو ته ځولې ونیوله. د هغوی زنې مې ونیولې خو یوه هم را باندې رحم ونه کړ. زه اوس د همدې زاړه سره چې د نیکه پرځای مې دی خپل مرګ ته شپې شمارم. وزړې نه لرم چې درشم او دلته هم پرنده کنه یم.

ستاسو په ویراخته

سلګۍ.

د لیک په لوستو ما مورنسېم په ځمکه نسکور ولوید. میرمنې یې له ډیره غمه د لیونو غوندې کړیکې کړې. هغه چې څه وخت وروسته په سد شو نو د لور نا اشنا غم ته فکر ېوړ او نابېره یې له ځانه سره وویل که دلته یې راوغواړم نو خپلوانو ته به مې څه وایم؟ که ورته ووایم چې مه را ځه نو له غمه به مړه شي له دې سره یې قلم راواخیست او دا لیک یې بوډا ته ولیکه.

نامعلومه او بې پته بوډا!

خدای دې په هغه جهان کې هم په شرمونو ککړ کړه. نه پوهیږم چې له کوم ذاته یې تا د یوې معصومې ژوند برباد کړ. سلګۍ دې د لمسۍ په ځای ده. او بیا ستاوجدان دا څنګه مني هغه خو یوه میاشت د صیاد بې پته ښځه وه. خو سره له دې که سلګۍ صیاد ته وسپارې زه به دې تر مرګه احسانمن یم. خیر دی دا ښه را سره د خدای لپاره وکړه.

د بدبختې سلګۍ په غم اخته پلار!

هغه لیک د سلګۍ په پته بوډا ته ولیږه او د سلګۍ لپاره هم د دې لیک ځواب ته منتظرو. یوه میاشت وروسته د بوډا لیک راورسید او چې کله یې پرانیست نو په دې کرښو یې سترګې ولګیدې.

عزتمند خسر صاحب!

ستاسو له مینې او مهربانۍ نه ډک لیک راورسید. تاسو به خبر یاست چې زه یو Civilized (متمدن) انسان یم. ما ته دا مهمه نه ده چې سلګۍ یوه

میاشت له صیاد سره وه. زه افسوس کوم چې په یو یشتمه صدۍ کې چې د انټرنیټ زمانه ده د یو داسې تنګ نظره خسر زوم یم چې دې وخت کې هم په دومره وړو خبرو پسې ګرځي. د عمر په برخه کې عرض دا دی چې دلته منځني عمر (۹۰) کاله دی نو په دې حساب په شپینه کلنۍ کې تاسو باید ما یو پوخ زلمی وګڼئي. سلګۍ نه هیڅ تشویش مه کوئ. یو څو کله وروسته به سلګۍ بیا زه پخپله درولیږم. بیا به ورته زه ضرورت نه لرم.

ټینکس الاټ

ستاسې منلي زوم .K.D

۲۰۰۰/ څمکني - پېښور

---

*نام مجموعه: سلګۍ په لوبډیګ کې.

ناشر: د ختیځ بیارغونې اداره (کور) : ۱۳۸۰ هـ.ش.

تدیر احمد سهار

هغه لېونۍ ده!

باران په شرق شرق وریده، اسمان د خپلو ډکو سترګو درنې اوښکې د غمکې په ګریوانه کې را ایله وې، څاڅکو د ونو شنې پانې مینځلې، د چاپیریال په اوږو سکوت پښې اړولې وې، چوپه چوپتیا وه، یوازې تالندې او بریښنا کله نا کله د ماشومانو او ښکې بهولې. صفیه د کلاله دیوالې سره ولاړه وه، د باران بهیر لمده خیشته او له سره یې ترپښو پورې مینځلې وه.

د کلا دیوالونه ختین وو، کله کله به یو پرېر خټه راولویده. صفیه به وویریده، یوې بلې خواته به یې وکتل بیا به یې زر زر ډیدونکي لاسونه په سینه کیښول.

د زبیر د کلا ور اوسپنیزو، خو چاجر «پتري» یې څو ځایه د روسانو د مرمیو په زور سوري شوي وو، پلار یې ډېر شوم و، له افغانستان څخه یې په تنظیمي لارې کې پښور ته راوړي وو او دلته یې پخپله کلا کې لګولي وو.

زبیر له کلا څخه راووت پر اوږه یې چاری «بوم» راخیستی و، ژر ژر یې د کور بنده ویاله پاکه کړله، انګړ یې ټول له اوبو څخه ډک وی. صفیې د دیوال له کنجه پټ پټ ورکتل، پر ګلابي اننګو یې د اوښکو څومرغلین څاڅکي راوڅڅېدل. څو پرله پسې سوزوونکو سړو سلګیو واخیسته، څادر

یې تر پیځکې راونیو، خپلې بهاندې اوښکې یې پرې وچې کړې او بېرته یې دیوالې ته ډډه ولګوله.

باران زبیر لوند خیشت کړ، په انګړ کې ډنډ اوبه په یوه منډه راووتې او ټوله لاره یې ونیوله. زبیر بېرته یوم په اوږه کړ، ور یې پرانیست او کور ته ننوت.

صفیه دوه ګامه را وړاندې شوه، د دوی په لوري یې ورو ورو ګام را واخیست، بېرته پښه نیولې شوه. په زړه کې یې څه ور ګرځیدل. سوکه سوکه شاته لاړه، لکه مابنام پخپلو تورو ببرو څنو وېرولې وي، ګامونه یې چابک کړل په بیړه بیړه یې د کور خواته مخه شوه. استاذ امین د دې د کورنۍ یوازینۍ غړی و، چې ورپاتې و، دا یې څومره میاشت وه، چې جګړې ته تللی و او بیا یې کور ته سر نه و رابښکاره کړی. مخکې به په شپږ اوو میاشتو کې یو ځل دوه کور ته راته، خو دا ځلې د دې سپېرې په قسمت هغه هم وځنډېد.

استاد دې ته ویلي وو، چې ژر به راځم او ان شاء الله دلته به په کلي کې نور د خپلې استاذۍ دنده ترسره کوم.

صفیه د استاذ دې ځنډېدنې ته ډېره اندیښمنه وه، رنځونو او کړاوونو ډیره ځپلې وه، کله کله به یې ببدرېغه له ستر ګو او ښکې راوبهیدلې او لاندې به یې په بار خوګانو لاړې وکړې.

د امین له راتګه یې نوره تمه وشلیده، نور نو هر وخت زیارت و او د صفیې تګ و، کله کله به چې د مور د قبر سرته کښیناسته. ناپامه به یې پر شناختو باندې بنګړي مات کړل او بیا به یې تول د قبر په منځ ور وشیندل.

د صفیې ګوزاره ډېره مشکله شوه، څه وخت یې د کور د سامان په خرڅولو ژرنده وګرځېده. خیمې، کالي، لښتی او امبل... یې هم وپلورل، خو چې هر څه یې له لاسه ووتل او د پولې ټک ته کښیناسته، د کور په وره پسې یې قلف واچاوه او سوالګرۍ ته یې ملاوتړله. د هشنغرۍ او فردوس ترمنځ په پرتې لارې ټولې به یې ګز اوګام کړې، چا به غږیان او څلورانې ورکړې، چا به په پوښتنو پوښتنو له سواله بیزاره کړه.

ځینو ځینو به ورته ویل:

«ځوانه ښځه یې میړه وکړه!»

«ستا غوندې ښځې په کور ناستې وي چې میړه نه کوي، خو د به سوالګره وي»

صفیه به غلې وه، د دارنګ خلکو او پوښتنو له ځوابه وتلې وه. نوره له داسې خبرو سره عادت شوې وه. دومره بدې پرې نه لګیدلې.

زبیر هم په ښار کې د وچو میوو هټۍ په اصطلاح یوجنرل ستور درلود، د کلي خپلو خپلوانو او ملګرو به سودا له زبیر څخه وړله.

احمد او حسین هم کله کله ښار ته راتلل او له پلاره سره به یې د هټۍ په چلولو کې مرسته کوله، که څه هم هغوی ښوونځی هم لوسته، خو یکشنبه د دوی رخصتي وه. په پاکستان کې عموماً د یکشنبې په ورځ دولتي او شخصي ښوونځي او دفترونه بند وي. دا تبدیلي له څه مودې راهیسې د چارواکو له خوا اعلان شوه، علماو او خطیبانو ډېرې چیغې ووهلې او د حکومت پر خلاف یې زیاتې مظاهرې وکړې، خو هغه د چا خبره چا پرې غوږونه ونه ګرول او همداسې

يې دودومونډ.

صفيې څو ځله احمد او حسين په لاره ولېدل. هر ځل به يې چې تر سترګو شول زړه به يې د دوی څنګ ته ځان ور ورساوه او په يوه او بله خبره به يې راغړول.

د صفيې توجه د سوالګرۍ په پرتله احمد او حسين ته زښته زياته وه او دا ليوالتيا او مينه مخ په زياتيدو وه. کله کله به يې د زبير په هکله هم پوښتنې تر وکړې او په خبرو خبرو به يې تول راوغړول.

د نورو ورځو په پرتله زبير نن هټۍ ډېره د وخته بنده کړه، د ښار په بره خوا کې د مظاهرو ګونګسي و، زياترو خلکو خپلې هټۍ بندولې.

زبير احمد او حسين دواړه تر لاسونو نيولي و او د لوی سړک پر غاړه روان و، صفيه هم د بنګړي والو ترڅنګ ولاړه وه او دواړه سترګې يې په دوی کې ښخې کړې وې، زبير د صفيې له مخې تير شو، خو ماشومانو به کله کله شاته راوکتل، صفيې حسين ته لاس وخوځاوه. حسين زبير ته ووېل:

- بابا ودرېږه، اغه ښځه څه وايي؟

- کومه ښځه؟

- آ د بنګړي والې سره هر وخت مور ته وايي، چې زه ستاسو مور يم... هر وخت مور ته چاکليټ او ژاولې اخلي.

«په حيرت» تاسو ته يې کله وېل چې زه ستاسو موريم.

- احمد: آبله ورځ.

- تاسو ليدلې ده! څنګه ښځه ده؟

– هو! هغه ډیره ښه ښځه ده، ښایسته هم ده.

زبیر په عجیب حالت کې قرار درلود، سترګې یې له اوښکو څخه ډکې وې، د صفیې معصومه څېره، د پلار ظلم او د بچیانو مکالمه یې چې ویل یې «کاش مور هم مور درلودای» ډېر زر په پرله پسې توګه د فلم په شان په سترګو کې راغلل، هماغه ورځ یې سترګو ته ودریده، چې پلار یې په هېڅ خبره د ده او صفیې د ټینګې رشتې مزي سره وشلول... شونډې یې ورپېدې په ډک ستوني یې وویل: رائځ! رائځ! هغه لېونۍ ده. هر چا ته داسې وایي. *

پېښور، نصرت مېنه

۱۳۷۹/۲/۱۶

*نام مجموعه: هغه لیونۍ ده.

ناشر: دانش خپرندویه ټولنه: کال ۱۳۸۰ هـ.ش.

PROPERTY OF ARIC KABUL

PROPERTY OF ACKU 12672

د نیلو فرو کیسې

نیولیک	لیکواله /لیکوال
شمېر د کیسې نوم	
۱ - سپینې پانې	پروین فیض زاده ملال
۲ - د کښې لور	سعدالدین شپون
۳ - زندانې نجلۍ	عبدالمنان ملگری
٤ - فراري	احسان الله آرینزی
٥ - موسکا	امین الله افغانپور
٦ - زمور کوڅه	عارفه عمر لور
۷ - خپله خوښه	عابده وردگ
۸ - برکتي ډوډۍ	روشنا وردگ
۹ - د مور غم	اسدالله غضنفر
۱۰ - د ابۍ لیلا او دنیا	وحیده وردگ
۱۱ - سلگۍ په لویدیځ کې	حفیظ الله تراب
۱۲ - هغه لیونۍ ده	نذیر احمد سهار

ناشر: مرکز تعاون افغانستان(CCA)